شریعت

اونیزه

د طالبانو د اسلامي تحریك نشراتي ارگان

لومړی کال دوهمه گنه دوشنبه د ۱۳۷٤ ش کال د مرغومی (جدی) دمیاشتي (۱۱) د ۱۹۹۵ کال د جنوری (۱) د ۱٤۱۶ ق کال د شعبان المعظم (۱۲)

الهی فرمان

پس باید پیکار نمایند کسانی که زندگی دنیا را در بدل آخرت میفروشند و کسی که در راه خدا(ج) می جنگد، پس کشته میشود یا پیروز میگردد به وی مزد بزرگ میدهیم. و چیست شمارا که پیکار نمیکنید در راه خدا و برای خیربیچارگان از مردان و زنان و کودکان آنانکه میگویند: ای پروردگار ما برون آر مارا از این قریه که ستمگاراند اهل آن و مقرر کن برای ما از نزدیك خود کارسازی و مقرر کن برای ما از نزدیك خود یاری دهنده ای.

(النسا: ٧٤-٧٥)

نبوی ارشاد

از ابوذر و معاذ بن جبل رضی الله عنهما روایت است که رسول اللهﷺ فرمود: از خدا بترس هر کجائی که بودی و در مقابل بدی نیکی کن تا آنرا محو نماید، و با مردم به شیوه نیکو و اخلاق پسندیده رفتار کن. (اربعین نووی رح)

خادم اسلام ملا محمد عمر آخند در پیام خویش گفتند:

مسلمانان را خداوند تعالی به آن چنان بنده گی وحکومت سازی مکلف فرموده که خواسته او است

مسئله چوکی، قومیت و زبان درمیان نیست

جناب امیر تحریك اسلامی طالبان ملا محمد عمر اخند در پیامی عنوانی شریعت اونیزه فرموده اند که: ملت افغانستان یك ملت مسلمان بوده و قرنهارا در دینداری پشت سر گذر انیده است. باتآسف باید گفت که در افغانستان از دیر زمانی حکومتی بمیان نیامده است که طرف اطمینان مسلمانان بوده احساس تحفظ خون، مال و ناموس خویش را در سایه ان کرده باشند، البته ها اندازه ای اگر امنیت بر قرار شده باشد ولی پیشرفت در امور دین و دینداری مطابق خواست خداوند تعالی گاهی

ص٤

د طالبانو د عالی شورای غړی مولوی نورالدین ترابي د شریعت د خبریال سره په مرکه کې:

ټول طالبان دورونو پشان ژوند کوی

پوښتنه: محترمه داسی گنگوسی او آوازی دی چی دطالبانو اسلامی تحریك په دو ټوټو تقسیم شو آیا دا خبره څه حقیقت لري او که څنگه؟

ځواب: د اسلامی تحریك ټول طالبان د وروڼو په شان ژوند کوی یو او بل ته احترام کوی او یو بل ډیر اطاعت کوی دا د اسلام

٤مخ

د اهل تشیع یو شمیر نمایندگانو د طالبانو د اسلامی تحریك له مجاهدینو سره گتوری خبری وشوی

د غزني له ولایت نه د «شریعت اونیزی» خبریال خبر راکړ د ۱۳۷٤ هـ ش کال د جدی په ۷ مه نیټه د اهل تشیع نمایندگانو د اکبری د وحدت د ولی آغای محقق استاد شکیب د حرکت اسلامی د محسني د ولی اغای جعفری په غزنی کښی د نوموړی ولایت له مرستیال مولوی صاحب عارف الله«عارف» د امنیی قوماندان الحاج جیلانی چی ښاروال هم موجود وو د غزني ولایت په مقر کښي ولیدل.

خبر زیاتوی د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو له تلاوت وروسته د اسلامی تحریك په نمایندگی د غزني ولایت مرستیال «عارف» صاحب د اهل تشیع نمایندگانو ته د اسلامی تحریك په اهدافو وږدی خبری و کړی وی ویل: د طالبانو اسلامی تحریك په گران هیواد کښی د اسلامی نظام د پیاده کیدلو د امن او امان د راوستلو په منظور پیل شوی دی نور به په هیواد کښی د نفاق او بدبختی اوورنه مړه کړای شی ټول افغانان به خپل ژوند په گډه

٤مخ

به هیئت پوهنتون اسلامی هرات وعده همکاری واطمینان داده شد

هیأت علمی و اداری پوهنتون اسلامی ساینس و تکنالوجی که در هرات فعالیت دارند بتاریخ ۱۰/۱۰/۱۳۷٤ هـ ش با اعضاء شورای مرکزی نمایندگی

ص ٤

د طالبانو د اسلامی تحریك سپیڅلو مجاهدینو د ربانی له ټوپکیانو څخه څلورپوستی ونیولی

د مرغومی ٦:

دشریعت اونیزی، خبریال د خبر له مخی د تیری چارشنبی په ورځ د طالبانو د اسلامی تحریك دیندارو مجاهدینو د ربانی له ټوپکیانو څخه د کابل د سنگ نوشتی خواته دوه او بوه لاندی

٤مخ

د طالبانو اسلامی تحریك ترکنترول لاندی ولایاتو کښي د جدی (٦) مه توره ورځ په درنو غونډو ولمانځل شوه

د کندهار له ولایت نه د باختر آژانس خبریال راته لیکی، د روان هـ ش کال د جدی(٦) توره ورځ د هیواد په ټولو آزادو ولایتونو کښي په درنو غونډو کښي ولمانځل شوه.

خبر ځای ورانلوي لیکی چی د جدی د (٦) می توری ورځی د غندنی په مناسب د جوړو شویو غونډو په لړ کښی په افغانستان باندي د روسانو د بربند عسکری تیری، د روسانو بشپړی ماتی او د کمونیزم د له مینځه تلو په اړوند وږدی خبری وشوی.

د کندهار ښار د A-D-A موسیسی په انگړ کښی له روزگان او زابل نه د راغلو استاذانو د سمینار اختتامیه غونډه جوړه شوه

له کندهار نه د «شریعت اونیزی» خبریال خبر راکوی چی د روان هـ ش کال د جدي په لومړیو ورځو کی د کندهار ښار د A-D-A موسسی په انگړ کښی د روزگان او زابل ولایتونو نه د راغلیو استاذانو د سمینار د اختتام غونډه جوړه شوی وه چی غونډی ته د A-D-A د امر ښاغلی لودین د افغان انکشافی تربیوی موسیسی د مرستیال محترم سردار محمد سمون نه علاوه یو شمیر عالمانو، پوهانو او استاذانو

دجدي په (٦)مه دطالبانو داسلامي تحریك دمرستیال الحاج ملامحمد رباني تر ریاست لاندي دکندهار ولایت په مقر کښي دعالي شوری غونډه دایره شوه

ص٤

هیئت نمایندگی ها تحریك اسلامي طالبان از مدارس دینی صوبه سرحد دیدن کردند

هیأت مرکب از جناب مولوی شهاب الدین دلاور، مولوی عبدالستار پاچا و تعداد دیگری از علماء کرام که از طرف شوری علماء تعین گردیده بودند. همرای علماء، مدرسین، و مهتممین مدارس شاه منصور، داکی، یار حسین مردان، و رستم واقع صوبه سرحد پاکستان، ملاقات و مذاکره نموده از جریانات جاری کشور و پیش رفتهای تحریك اسلامی طالبان در عرصه های مختلف او شانرا آگاه ساختند. مقابلتاً جناب شیخ القران صاحب، شاه منصور، مولوی حمد اله جان صاحب مولوی سید قریش صاحب و مولوی نجم الدین صاحب وعده سپاریدند که در سال آمنیه تعلمي (درسی) به طالبان افغان حق شمولیت در مدارس به هیچ صورت داده نشده و به طالبان توصیه میشود تا در راه وجیبه اهم دیني خود ها (تحکیم نظام اسلامی و تنفیذ شریعت) در کشورشان ساعي وحساسیت وقت را در نظر گرفته وجیبة دفاع از شریعت و تنفیذ شریعت را بر هر وجیبه دیگر به شمول درس و تعلیم خود ها مقدم شمارند.

د دلارام په سیمه کی د مهماتو یوه لویه زیرمه کشف شوه

٤مخ

والی محترم هرات گفتند:

تحریك اسلامی طالبان ارزومند علایق خوب با همه دول همسایه میباشد

محترم الحاج ملایارمحمد آخند والی ولایت هرات در دفتر کار خود در حالیکه یکتعداد از اعضاء شوری ولایتی آن ولایت حضور داشتند با قونسل ترکمنستان مقیم هرات دیدند، از ولایت هرات آژانس اطلاعاتی باختر خبر میدهد: که در آغاز محترم والی هرات در مورد اهداف و مقاصد تحریك اسلامی طالبان برای

ص٤

په پکتیکا کښی دعلماء کرامو شوری جوړه شوه

د پکتیکا له ولایت نه د شریعت خبریال خبر راکوی چی ولیندی د میاشتی په وروستیو ورځو کښی د شرني په ښار کښی دعلماء کرامو د شوری جوړولو دپاره یوه پرتمینه غونډه جوړه شوی وه چی غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه وروسی غونډی ته راغلیو علماء کرامو د پکتیکا ولایت د خلکو د اجتماعی، سیاسی و تعلیمی چارو د لابنه والی په هکله مفصلی خبری وکړی.

خبریال وړاندی لیکی دغونډی په پای کښی د نوموړی ولایت د قضائی او تعلیمی اداری او اجتماعی چارو دښه سمبالښت په خاطر دمولوی صاحب مولا جان

٤مخ

په غزنی کښی د سړکونو د جوړولو کار پیل شو

د غزني له ولایت نه د «شریعت اونیزی» خبریال راته لیکی چی د غزنی د ښار او شاو خوا سیمو د سړکونو کار د اسلامي تحریك په خاصه پاملرنه ددغه ولایت د ښاروالی لخوا د ښار او سیمی سړکونو ترمیمولو کار پیل شو، ترڅو د خلکو د تگ راتگ لیاري هواری او مشکلات بی کم شي.

او همدا راز یو شمیر هغه دوکانونه او غرفی چی د کمونیستانو د حکومت لخوا په غیر قانونی ډول جوړی شوی وی او ښاریانو ته یی ستونځی جوړی کړی وی له مینځه یوووړل شوی.

د گردیز ملکی شفاخانه بیا فعاله شوه

د پکتیا له ولایت نه د «شریعت اونیزی»» خبریال خبر راکوی چی د گردیز ښار ملکی شفاخانه چی ټول طبی سامان الات یی لوټ شوی وو په دی وروستیو کښی د طالبانو د اسلامی تحریك لخوا د طبی سامان آلات په برابرلو دو باره په فعالیت پیل وکړ.

چی هره ورځ په شفاخانه کی په لوی شمیر ډول ډول مریضان تداوی کیږی.

* * *

سرمقاله

بنهی یی لوگی شوی له بچو سره

د مرغومی شپږمه. کال ۱۳۵۸ په اسلامی افغانستان باندی د سره استعمار او پخوانی شوروی اتحاد دسرو لښکرو دتیریونو، ټانگونو، طیارو له وحشت او بربریت څخه ډکه دغمیهار او غورهار ورځ ده. په ښارونو، کلیو او بانهوکی د بی گناه افغانانو د وینو او کپریو د گوناتار ورځ ده د مظلومو تورسرو، کونډو او یتیمانو د ژړاوو فریادونو اوچیغهار ورځ دی. د دینی عالمانو، مشایخو مبارزو مسلمانانو او ملی مشرانو د قتل عام ورځ ده. په دغو ټولو دردو نو او غمونو باندی د مزدورو کمونستانو د هوراوو او چکچکو دکړنگهار ورځ ده. چی څومره مسلمان غیرتمن او مجاهد ملت یی هیڅکله له خپلی حافظی ایستلی نشی.

دا هغه ورځ ده، کله چی د سوسیالیزم او کمونیزم الحادی مفکوره د اسلامی دین د معقولیت او حقانیت په وړاندی منطقی او نظریاتی ماتی خوري، روسان او دپخوانی شوروی اتحاد، د سوسیالستی بلاك ټول اتهبوالان، په کمزوری، فقیر او مسکین هیواد اما په معنوی لحاظ په بڼایه، با ایمانه، اتل، قهرمان او مجاهد ملت باندی بربند نظامی تیری کوی. په معاصرو او مودرنو وسلوسمبال له یونیم لك څخه زیات ملحد او کافر فوځونه رامرش کوی. او څومره د زړورو او مسلمانو خلکو ایمانی او افغانی غیرت په جوش راولی، او خپل دښمن د نابودی او بربادی کندی ته غورځوی.

«چا چی ستا په کور باندی پرواز وکړ بنهی یی لوگی شوی له بچوسره»

د حق او باطل په دغه تاریخی ډغره کی دسره استعمار د غرور او استبداد بنهی او بچیان دلوی خدای (جل جلاله) په مرسته د مسلمانو مجاهدینو په لاس د اسلامی جهاد په لمبو کی تور لوگی او شنی لوخړی شول. دجهاد د اتلانو په زورورو گذارونو، او د مجاهدینو په لوړو تکبیرونو، دکمونیزم د نظریاتی ماڼی دوړی آسمان ته جگی شوی. دسره استعمار په مقابل کی داسلامی افغانستان د عزت او شهامت نوم یو ځلی بیا دملتونو په تاریخ کی په طلایی تورو باندی و لیکل شو.

خوله بده مرغه؛ یو شمیر ضعیف النفسه او قدرت طلبه عناصرو دافغانستان دمجاهد ملت د ننگ او غیرت دغه جگه شمله، لوړه و نه ساتله، ډیر ژربی له کمونیستی ملیشو سره چی د روسانو له خوا په ژبنی او سمتی بنیادونو جوړی شوی وی د قدرت په خاطر د ائتلافونو او اتحادونو بدمرغه لړی پیل کړه، او هیواد یی دکورنیو جگړو اوروتوته ورټیله کړ. د سپیڅلو شهیدانو هغه ارمانونه چی دکمونیزم نه وروسته به په افغانستان کی داسلامی شریعت بیرغ رپیږی، له خاورو سره خاوری کړل.

خو د افغانستان دینی طالبان او عالمان چی د اسلامی جهاد دفتوی او قوماندی اصلی مرکز وو ددغه انحراف او ملی تراژیدی (Tragedy) په وړاندی خپلی د انتظار شپی پای ته ورسولی او د اسلامی جهاد دژغورنی، د ظالمانو او داړه مارانو، او قدرت مینانو په خلاف یي دعمل میدان ته راودانگل. ډیر ژربی د هیواد له نیمایي په زیاته برخه کی د ظلم او استبداد، انارشی او گډوډی توره کمبله ورتوله کړه. اوس لري ته دی چی په ټول افغانستان کی به اسلامی شریعت تطبیق او د افغانستان مسلمان ملت به په آزاد اسلامی افغانستان کی د آزادی او خوشحالی ژوند کوی او د اسلامی جهاد ټیټه شمله به بیرته جگه شی.

انشاء الله

د طالبانو اسلامی تحریك څنگه او د څه د پاره مینځ ته راغی

ص۲

آیا ادعاهای مخالفان بر تحریك اسلامی طالبان حقیقت دارد؟

ص۳

یوه تاریخی پرتله یو تاریخی حقیقت

۲مخ

د طالبانو اسلامی تحریك د امیدونو ځلی

۲مخ

د مسلمانی عقیده

۳مخ

د جرگو مرکو او ننواتی لړی

٤مخ

د جدی شپږمه پر افغانانو باندی د آفت نازلیدو ورځ

۲مخ

ما از صفر اغاز کردیم و لله الحمد در وقت خیلی کم مؤفق شدیم که در کنار سایر فعالیتهای نشراتی خود رادیو های قندهار، فراه، نیمروز و غزنی را احیاء مجدد نمایم که فعلاً آغاز به نشرات نموده اند

* ما در سدد آن میباشیم که: در ولایات تحت اداره، (تحریك اسلامی طالبان) مجمعه های از ادیبان و نویسنده گان تأسیس نمائیم. (مولوی سیدمحمد حقانی)

فشرده، از مصاحبه، محترم مولوی سیدمحمد حقانی تاون ریاست اطلاعات و کلتور قندهار را که با (طلوع افغان) انجام داده بودند بدست نشر میسپریم:

مولی صاحب گفتند: وقتیکه قندهار بدست طالبان (تحریك اسلامی طالبان) فتح گردید امورات ریاست اطلاعات و کلتور همچون سایر ادارات دولتی متوقف و غیر فعال بود. عمارت ریاست تخریب شده بود، کتاب خانه، عامه چورو چپاول گردیده بود، دستگاه را دیو از بین رفته بود، خلاصه

ص ٤

دپاکستان له سند ایالت کراچی نه راغلیو علماء کرامو سره چی معصوم (افغانی) هم ورسره ودکندهار والي الحاج محمد حسن اخند دولایت په مقر کښي وکتل

٤مخ

په تېر پسې

د حضرت عمرو بن الجموح (رض) په ژوند لنډې خبرې

سلمه په کنده کې چې هلته چټل شیان اچول کېده وغورځاوه او بې له دې چې څوك په دې پوه شي خپلو کورونو ته ستانه شول.

کله چې سباشوعمرو په ډېر آرام زړه خپل بت ته دسلام په غرض لاړ ولې هغه بت پخپل ځای کښې ونه لید نو وې ویل:

تبا شي چا په دغه شپه کښې زموږ په خدای تیری کړی دی؟!

هیچا ځواب ورنه کړ.

بیا په کور او دباندې ځایونو کښې د هغه په لټه کښې شو او له ډېره قهره یې له خولې ځګونه باديدل او دوارولو او ویرولو خبرې یې کولې تر هغه چې هغه یې په کنده کښې تسکور بیاموند او بیایې هغه وویڅه په عطرو یې کړ او بېرته یې پخپل ځای کښې کېښود او ورته یې وویل:

په خدای سوګند که زه پر شم چې دا کار چا درسره کړی نو هغه ته به سزا ورکړم.

کله چې دویمه شپه شوه ځلمیانو بیا مناة له خپل ځای څخه راخیست او دپخوا په شان یې په هماغه کنده کښې وغورځاوه سپین ږیری چې دهغه لټه وکړه نو داځل یې هم په کنده کښې چټل بیاموند بیاهغه یې پورته کړ وېې وینځه په عطرو یې کړ او بېرته یې په خپل ځای کېښود.

ځلمیانو د پخوا په شان بیاوکړل تر څو چې سپین ږیری په تنګ شو او له خوبه مخ کښې مناة ته ورغی او توره یې په غاړه کښې ورځوړنده کړه او ورته یې وویل:

ای مناته! په خدای سوګند زه نه پوهېږم چې څوك درسره داسې کوي نو که په تاکښې څه وي او څه کولای شې له خپل ځان څخه شر دفع کړه او دغه توره مې درسره پرېښودله.

بیا عمرو خپل بستر ته لاړ او دبت په باب دعواقبو په انتظار کښې شو.

کله چې ځلمیان پوه شول چې سپین ږیری په خوب کښې ووب پروت دی نوبت ته ورغلل او توره یې دهغه له غاړې څخه واخسته او بیایې له کور څخه بهربووړ او دیوه مړ سپي سره یې په رسۍ کښې و تاړه او بیا دواړه، (بت او سپی) یې دبنو سلمه په څاه کښې چې هلته چټلې ورتله او پکې غونډېدله وغورځول.

کله چې سپین ږیری ویښ شو او بت یې پخپل ځای کښې و نه لید نو له کوره ووت او دهغه په لټه کښې شو بیا دوېری لټې وروسته ګوری چې هغه په څاه کښې پرمخ تسکور پروت دی د مړه سپي سره تړلی دی او توره نشته مګر په دغه ځل یې هغه له ځا څخه ونه ویست بلکې هماغسې یې پرېښود او دغه بیت یې وواېه:

والله لوكنت الهاً لم تكن
انت و كلبٌ وسط بير في قرن

په خدای سوګند که ته خدای وای نو ته اوسپې به دڅاه په منځ کښې یو ځای نه وای.

بیا ډېر وخت تېرنشو چې دهدایت په لاره برابر او د خدای (ج) په دین کښې داخل شو.

عمرو بن الجموح د ایمان خوند ولید او په خپل تېر وخت چې په کفر کښې و دپښیمانۍ ګوتې یې په غاښ کړلې دین یې په تن او روح سره ومانه او خپل ځان اولاد او مال یې دخدای (ج) او د هغه پیغمبر(ص) دطاعت په لاره کښې وقف کړل.

ډېر وخت تېر نشو چې د احد غزا منځ ته راغله په دغه وخت دعمرو بن الجموح سترګې په خپلو دریو زامنو چې د خدای د دښمنانو د جنګ د پاره یې تیاری نیوه- ولګېدلې او دری واړه یې ولیدل چې د زمریانو په شان دجنګ میدان ته په وتلو کښې دي- او دشهادت او دخدای (جل جلاله) درضا د میندلو په لار کښې په ډېر شوق او جزبې سره لیدل کیږي نو دهغو حال او دریځ دهغه غیرت په جوش او حرکت راوست او اراده یې وکړه چې دهغو سره د حضرت پیغمبر (ص) د بیرغ لاندې جهادته لاړ شي مګر ځلمیان دپلار دعزم په مخکې مانع وګرځېدل ځکه هغه له یوې خوا ډېر سپین ږیری او له بلې خوا ګوډ وو او لوی خدای جل جلاله معذور ګرځولی و.

زامنو پلارته وویل:

ای پلاره! ته خدای معذور کړی یې نوته دڅه دپاره خپل ځان تکلیف ته ورکوې؟!

سپین ږیری د هغو په دغه خبره ډېر په قهر شو او د دوی دلاسه په شکایت رسول الله (ص) ته ورغی او وې وویل:

ای دخدای (ج) رسوله: زما دغه زامن غواړي چې ماله دغه خیر څخه منع کړي دوی زما ګوډ والی دخپلو خبرو دلیل نیسي، او په خدای سوګند، زه هیله لرمه چې په خپل ګوډ والي سره جنت ته ورننوزم.

رسول الله (ص) د هغه زامنوته وفرمایل:

«هغه پرېږدئ ښایي لوی خدای هغه ته شهادت ورپه برخه کړي»

زامنو دحضرت پیغمبر (ص) په خبرې باور وکړ او دهغه لاره او مخه یې ازاده پرېښوده.

بیا کله چې غزاته دوتلو وخت نېږدې شو عمرو بن الجموح دخپلې ښځې سره دبیا نه لیدلو خدای په امانی وکړه بیا مخ په قبله ودرید او خپل لاسونه یې اسمان ته پورته کړل او وې ویل!

«ای خدایه! شهادت را په برخه کړه او خپل اهل ته مې نا امیده مه ستنه وه»

بیا عمرو دجهاد په نیت دخپلو دری واړو زامنو او دخپل قوم (بنوسلمه) د ډلو سره روان شو، کله چې دجنګ اور ولګید او جنګ تود شو او خلك د رسول الله (ص) د شا او خوا څخه تیت او پرك شول په دې وخت کښې د دریو زامنو پلار دمجاهدینو په لومړۍ ډله کښې ولیدل شو چې په روغه پښه ټوپونه وهي او وایي:

«زه دجنت مینه لرم زه دجنت مینه لرم»

په دغه وخت کښې یې (خلاد) زوی شاته ولاړو.

سپین ږیری او ځلمی زوی یې درسول الله (ص) څخه دفاع کوله تر هغه چې زوی او پلار دواړه دجنګ په میدان کښې دشهادت پیاله نوش کړه.

او دپلار او زوی دشهادت په مینځ کښې یوازې د څو شیبو درنګ و.

کله چې جنګ ودرید رسول الله (ص) د شهیدانو په خښولو شو او خپلو ملګرو ته یې وویل:

«له خپلو وینو او زخمونو سره یې پرېږدئ زه پر دوی شاهد یم»

یوه تاریخي پرتله یو تاریخي حقیقت

(شهرتنګیال)

د افغانستان مسلمان ولس یو ځل بیا صابرشاه ملنګ ته ضرورت لري، دا دیوې مقالې سر لیك ؤ چې ما څو کاله دمخه په کومه خپرونه کې لوستی ؤ دصابر شاه ملنګ له نوم او ضرورت سره دیوې تاریخي پېښې یاد تازه کیږي او هغه ددغه وطن لپاره دیوه ملي شوی زعامت له نعمت نه برخمن کېدل دي. په هغه لیکنه کې د افغان مجاهد ولس دیوه ملي او واحد زعامت په اړه همدغه تاریخي یادونه شوې وه او هغه د احمدشاه بابا دانتخاب مسئله وه، داسې انتخاب چې (۲۵) کلن احمد خان پکې د ټولو افغانانو بابا شو او ډېرو سپین ږیرو او مشرانو د ده بابا توب ومانه داځکه چې هغه د دنیا په سپینو او سرو مینه و نکړه، هغه داټول محبتونه چې واړه خلك یې لري له یوه عشق ته قربان کړل او هغه دملت او هیواد عشق ؤ، دمشرۍ لپاره معنوي رشد او بلوغ ضروري دی خوشال خان خټك وايي:

چې د ستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي

استاد الفت پخپل یو غوره اثر «اجتماعي نظريات» کې لیکي: «هغه څوك چې په پیسو مین وي او پیسې ټولوي هغوی هیڅکله ولس او ملت په ځان نشي راټولولی هغه شخصیتونه چې قومونه پرې غونډېږي پیسې نه غونډوي.

دا کېدی شي چې قلندران او درویشان دملت مشران شي او خلك یې په مشر توب ومني مګر د پیسو مینان هیڅکله د مشر توب لوړه درجه نشي موندلی او نه دمشرانو عشق پیدا کولی شي» ځکه خو احمدشاه بابا ته خلکو یوازې دیوه متبرع پادشاه په سترګه نه بلکې دیوه بزرګ، ستانه او ولي په سترګه کتل او د ده اطاعت او پیروي یې ثواب ګاڼه.

داحمدشاه بابا وضعه او چلند له رعیت، مجاهدینو او حتی دښمنانو سره ډېر شریفانه او له خوا خوږۍ ډك وه، دپانی پت په ستره غزاکې د مرحټو مشر واکمن «پیشوا بالاجي راو» زوی «بسواس راو» او تریور «سداشیوبهاو» ووژل شو خو بابا دهغوی په وژلو د غرور او ویاړ څرګندونه ونکړه بلکه رکن ته یې د خپل استازي په لاس تعزیت نامه ولیږله چې پیشوابالاجي ته یې ورډاندی کړي، پدغه تعزیت نامه کې احمد شاه د «بسواس راو» په ځوانیمرګۍ او د بهاو په وژل کېدو افسوس څرګند کړی و او زیاته کړې یې وه ما دوی ته دجګړې نه کولو وړاندیز کړی ؤ خو دوی ځوانان وو، ویلي یې توندي وي زما پیشنهاد یې ونه مانه.

افغان مجاهد ولس د جهاد له پیله د زعامت له ربړې سره مخامخ ؤ خومره چې وخت تېرېده لدغې ربړې څخه را پیدا شوې ستونزې زیاتېدلې په حقیقت کې همدا ربړه او ستونزه د جهاد د چټك بری په مخ کې یولوی او حتی یواځیني خطر ګرځیدلی ؤ.

خو کله چې د نجیب رژیم تسکور شو د زعامت ربړې ډېره حاده او خطرناکه بڼه غوره کړه، دجهاد په ارمانونو او شهیدانو په قربانیو لوبې وشوې او د اسلامي جهاد، وطن او ولس پر ضد دیوې کرکجنې جګړې اوروته پل شول، اخلاق انساني ارخښتونه ملي منافع او مقدسات تر پښو لاندې شول، د سرونو، عفتونو او عزتونو سوداګري پیل شوه او هغه څه وشول

۳ مخ

د طالبانو اسلامي تحریك څنګه، او دڅه دپاره منځ ته راغی؟

عبدالحکیم مجاهد

وروسته له دې چې د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت لومړی دکمونیزم دمفکورې *یرغل په خلاف او بیا دکمونیستي ماتریالستي استعمار دسرو لښکرو په مقابل کې په مېړانه سره مخلصانه جهاد وکړ، او په دې لاره کې یې له یو نیم میلیون څخه زیات شهیدان ورکړل، په لکونو میرمنې کونډې، مورانې بورې او ماشومان یتیمان شول. چې په نتیجه کې دلوی خدای جل جلاله په فضل او نصرت، نه یوازې د سره لښکر نړۍ وال نظامي ځواك له سختې ماتې سره مخامخ شو، بلکې په فکري او ایډیالوژیکي لحاظ هم دکمونیزم په مفکوره د بطلان کرښه تېره شوه. دنړۍ اسلامي او غیر اسلامي هیوادونه ددوی د استبدادي الحادي او بشریت ضد خونخوارو منګولو څخه خلاص او یو په بل پسې د آزادۍ له ستر نعمت څخه برخورداره شول.

دغه عظیم او ستر افتخارات لوی خدای (جل جلاله) د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت ته ورپه برخه کړل، دنړۍ په ملتونوکې یې دعزت او تکریم په ګدۍ باندې کېښنول. او ددې وخت وارسیدلی ووچې نور په افغانستان کې یو واقعي اسلامي حکومت په عمل کې پلې کړای شي، چې دعدالت او برابرۍ، محبت او ورور ولۍ اسلامي نظم او دسپلین د ټولو پرګنو او قومونو تر منځ د خوشحالۍ په فضا کې د اسلامي شریعت سره سم مراعت شوی وای. خو دافغانستان په پراخه ټولنه کې دصدر اول دراشدو خلیفه ګانو داسلامي نظام تجربه یو ځلې بیا دنړۍ والو دپاره د اسوه حسنه په توګه تکرار شوی وای.

افغانستان د مختلفو ملیتونو او نژادونو هیواد دی او ددوی ترمنځ د وحدت او یووالي له ټولو نه لوی عامل اسلامي عقیده ده. ټولو په ډېر اخلاص او ایمان سره دکفر او الحاد په خلاف د روسي لښکرو په مقابل کې جهاد کړی او یوازینی ارمان یې دیوه اسلامي دولت جوړول وو. که په افغانستان کې دغه کارترسره شوی وای، دسیمې په ګاونډیو هیوادونو باندې چیرته چې په ګڼ شمیر کې په افغانستان کې دمیشته قومونو په شانې ملیتونه پراته دي، مثبت اسلامي اثرات او اغېزې کړي وای. او په دې توګه په یوه ستر اسلامي خلافت د رامنځ ته کېدلو دپاره امکانات برابر شوي وای.

خو له بده مرغه د اسلام او جهاد دښمنان ډېر زرنګ ډېر تجربه کار او ځمونږ، ځنې جهادي مسؤولین بې تجربې او له اسلامي فراست څخه بې برخې ثابت شول، ډېر ژر یې دافغانستان دمسلمان ملت مقدسې او سپېڅلې هیلې په ناهیلو بدلې کړې، او دمقدس اسلامي اتحاد په ځای نې دبدمرغه اتحادونو او ائتلافونو لړۍ پیل کړه، د قبیلوي نژادي او سکترستي په بدمرغه ډلو ټپلو کې وویشل شول. چې په نتیجه کې نې نه یوازې نړیوال ګټلی ویاړ او افتخار، اسلامي عزت او وقار له لاسه ورکړ، بلکې دافغانستان ځوریدلی او کړېدلی ملت یې داسې دجګړې اورته ورټېله کړ، چې دافغانستان او جهاد دښمنان راته د خوشحالۍ چك چکې وهي، او هر چیرته دغه مسلمان او مجاهد ملت ته د نااهلۍ او بې کفایتي پیغورونه ورکوي.

دهیواد په دغو تورو تیارو کې مخلصو طالبانو یو پاك سپېڅلی اسلامي خوځښت چې پخوایي دجهادي ګوندونو په لیکوکې دمقدس جهاد دنده ترسره کړې وه، او دروسانو او کمونستانو له ماتې وروسته یې بېرته دخپل پاتې دیني تعلیماتو دبشپړتیا دپاره اسلامي مدرسوته مخه کړې وه، ددغو ځوروونکو حالاتو او بد مرغه اتحادونو او ائتلافونو په خلاف دیوه غیر مترقبه نعمت په توګه په فوق العاده ډول په هیواد کې را میدان ته شول. د ملت ټول زیني، قبیلوي او سمتي اختلافات یې له مینځه یووړل، پښتون، تاجك، ازبك، ترکمن، نورستانی او هزاره ټولو داسلامي وروولۍ او وحدت لاسونه سره ورکړل. او دهیواد ددغو ناخوالو او بدمرغیو دمسولو او دجهاد د ارمانونو دپوره کولو دروند او ستر پیټی نه یې اوږې ورکړې، چې په همدغه مقدس هدف کې تر ډېره اندازې پورې بریالي شول.

دهیواد په زیاتو برخو کې یې اسلامي شریعت عملي کړ، دخلکو ځانونه مالونه او ناموس یې په امن او په افغانستان کې یې داسلامي وحدت او یووالي هغه مزی چې دهیواد دبقا او ارتقا دپاره یوازینی عامل وو دمختلفو پرګنو تر منځ ټینګ کړ. او دهیواد ټولو ملیتونو له دوی څخه په پټه او ښکاره ملاتړ وکړ ان تردې چې د هیواد ټولو سیاسي ګوندونو په یوه بنه یا بله بڼه ددوی په عمل او کردار باندې د صحت او صداقت څرګندونې وکړې، دهیوادوالو او ټولو مسلمانانو لیدلی زړونه را پورته شول دخلکو د ناامیدۍ ژړاوي د امید او خوشحالۍ په خندا بدلې شوې. مخلصو او بادرده مسلمانانو دلوی خدای جل جلاله په وړاندې دشکرانې لمونځونه ادا کړل او په هیواد کې دیو داسې [illegible] مرکزي اسلامي حکومت د پاره لاس په دعا شول چې هلته د پښتون، تاجك، اوزبك، ترکمن، بلوچ، پشه یي او نورستاني تر مینځ هیڅ نوع رنګ او ژبې امتیاز او توپیر نه وي، او ټول په خپلو منځونو کې سره ګران ورونه مسلمانان و اوسي.

اوس چې دطالبانو اسلامي تحریك دلوی خدای (جل جلاله) په فضل او نصرت سره دبشپړې کامیابۍ په درشل کې دی، دهیواد ټولو مخلصو او بادرده مسلمانانو ته په کاردي چې له ماضي څخه پند او عبرت واخلي او پرې نږدي چې داسلام او هیواد ددښمنانو په لاس جوړې شویو بدمرغو ائتلافونو په واسطه افغانستان یوځلې بیا دتباهۍ او بربادۍ لمبو ته ورکښ کړای شي او د الله تعالی له خوا د راکړ شوي سولې او سرلوړۍ، دنعمت په کفران سره یو ځلې بیا له یوې خوا دالله(ج) دعذاب مستحق وګرزو او له بلې خوا مو اسلامي او ملي وقار او افتخار له تباهۍ سره مخامخ شوی وي.

یوازې یو مضبوط مرکزي اسلامي حکومت ځمونږ د مشکلاتو حل دی چې له ټولو په اسلام مینو مخلصو عناصرو څخه تشکیل شوی وي او دافغانستان دټولو پرګنو او ملیتونو د پاره داعتماد او وسا وړ وي.

د طالبانو اسلامي تحریك د امیدونو څلی

شاه جهان سرداری

چا به ددې تصور نه کاوه چه د افغانستان دولس ګړاونه دې د طالبانو په لاس پای ته ورسیږي، او دا ځکه چه ټول خلك پدې سه پوهیدل چه دیني طالبان، دخپل سپېڅلي دین پتنګان دي او پخپل دین داسې مئین دي چه د هغې په بدله کې د هیچا څخه د کوم عوض تر لاسه کولو ته تیار ندي، پداسې حال کې چه شخړې او ګړاونه یوازې په مادي اسبابو هواریدای شي او بس.

دیني طلبه خونه پیسې لري، نه وسلې لري، نه له پردیو سره سازشونه تیار دي، نه په چلونو، دوکو، درواغو ... پوهیږي، نه غلامي مني، نه له خپلو اصولو او مقرراتو ګرځي، نه له خپلو شعارونو تیریدونکي دي او نه ...

نو څرنګه چه طالبان د مادیاتو له پلوه یوه کمزوري ډله ده څه ډول به وتوانیږي چې د داسې چا مقابلې ته را ودانګي چه نړیوال ستر قوتونه ئې تر شاه ولاړ دي، څوك ورته سلاح برابروي، څوك ورته نوټونه چاپوي، څوك یې افراد روزي او څوك ئې په سیاسي ډګر کې په نړیوالو ادارو کې ملاورتړي.

نو ډېر پدې عقیده وه چه ددغه دوو ډلو تر منځ چه یوه یې په هرراز جنګي وسایلو سمباله ده او په سازشونوکې پوره مهارت لري، نه اصل پېژني او نه هم دکوم څرګند دریځ څښتنه ده، اوبله چه له هرراز مادي اسبابو محرومه ده، روښانه دریځ لري او په ثابتو اصولو ولاړه ده، نو د دوی تر منځ نظامي توازن هرګز ممکن ندی. ځکه دا ټول د مادیاتو په ترلاسه کولو کې پوره اغیزه لري، خو دټولو تخمینونو او توقعاتو خلاف د طالبانو اسلامي تحریك پدې وتوانیده چه دورځو او ساعتونو په حساب داسې فتوحات وکړي چه ټول ورته هك پك پاتې شي او پخپلو مفتوحه سیموکې د امن او اطمینان څخه ډك داسې یو سپېڅلی اسلامي نظام را منځته کړي چه په روانه پیړۍ کې ئې ساری نه لیدل کیږي.

د طالبانو حیرانونکي پر مختګ او ځواکمن نظام ددې سبب شول چه ډېر تعجب پرې وشي او هر څوك د خپل برداشت او فهم سره سم ددې سپېڅلي اسلامي تحریك په هکله ځانګړي انګلونه وکړي.

خوټولو دا ستر حقیقت له پامه غورځولی وه چه که څه هم طالبان د مادي اسبابو له کبله یوه کمزوري ډله ده خو دیوې بلې لوی شتمنۍ څښتنان دي چه همدغه شتمني او سرمایه دټولو بریالیتوبونو، کامیابیو او فتوحاتو زیږنده ده او هغه شتمني په لوی خدای توکل، کلکه عقیده ټینګ ایمان او پیاوړی عزم او اراده ده، چه تاریخي واقعات، نبوي سرت او زموږ اسلامي تاریخ ددې سه او غوره څرګندوی دی.

د افغان جهاد پیلېږه له پامونو غورځیدلی وه چه هغه هم د هر ډول مادي شتمنیو پرته پیل شوی وه، مګر نتائج یې ټولوته لکه دلمر غوندې بریښي. دطالبانو د اسلامي تحریك هغه ژمنې چه زموږ دملت سره ئې کړې په عامه توګه ټولو مسلمانانو او په خاصه توګه افغان کړېدلي ولس ته یې د امیدونو نوی څلی جوړ کړی، او ټول لاسونه په دعا ددې انتظار کوي چه کله به ددوی په وطن کې دا ناروا پایښت مومي او کله به دوی د دیني علماو او طالبانو د عادل اسلامي او شرعي حکومت تر سیوري لاندې خپل حوږ ژوند بیا پیلوي.

دطالبانو د اسلامي تحریك د سرقدمینو علماء، دا اظهارات چه دوی به د لوی خدای په مرسته په خپل وطن کې اسلامي شریعت پلې کوي، اسلامي حکومت به جوړوي، د ظالم لاس به نیسي، غله، قطاع الطریق، مفسد، بې فرهنګه توپکوال به د اسلامي شریعت په رڼا کې محاکمه کوي، هغه وسلې چه زموږ په ملي شتمنیو اخستل شوې او ئن ورځ دبدماشانو په لاس کې دي هغه به راټولوي، زموږ دټولنیزو املاکو لوټماران به داسلامي قانون په رڼا کې د محاسبې میدان ته راپاسي، په هیواد کې مسلط انارشیزم به ختموي، د هر راز نژادي، قومي، تنظیمي او... تبعیضونو پرته به دټول ملت په خوښه یو ملي اسلامي حکومت قائموي، دا ویجاړ وطن به یوځل له سره دپرمختګ، آبادۍ، او ځلورنې په لور بیائي، علمي اداري د زده کړې مؤسسات او تعلیمي مراکز به یوځل بیا له سره پرانیزي او ... ټول ددې بر ملا ګوتګې دي چه د طالبانو زړه سواندې قیادت په کلکه دا پتیلې ده چه نور به ددې قوم ګړاونه ختموي، چه دې ټولو زموږ په وطن کې دولس دسوکالی او هوساینې آرزوګانې را پارولې دي.

رښتیا هم ټول پدې سه قانع دي چه زموږ په وطن کې یوازینې پرګنې چه د ملت دا امیدونه به په تحقق رسوي هغه دیني علماوو طالبان دي ځکه د آبادۍ توقع یوازې له همدوی کیدی شي اوبس لکه چه شاعر وائي:

د آبادی تمه له هرچانه کیدی نشي
ویجاړ کورونه خو یوازی معماران جوړوي

یوازې هغه خلك چه دخپل ولس دسوکالی، خپل وطن د آبادی، او دخپل دین په ساتنه کې هیځ عوض ته تن نشي اینږودلای هغه علما او دیني طالبان دي. نو نیکمرغي، هوساینې، سوکالي، او خپلواکي تیت او په زړه پوری امتیازات دي چه دپوره کولو مرجع به ئې هم نیك او غوره خلك وي او دیني علماء زموږ د ټولنې توتپولو غوره پرګنې دي.

بر عکس لوټماري داړه ماري، ویجاړي او... بد او سپك صفات دي چه دترسره کولو توقع ئې هم لکه د ... خلکو کیدای شي.

په هیواد کې دعلماو د سپېڅلي قیادت لاندې د اسلامي، عادل او فلاحي نظام په هیله.

از تزلزل بیش محکم میشود ...

پیوسته به گذشته

«ای بسا ابلیس آدم روی هست
پس بهر دستی نباید داد دست

مردم کابل ازین حقیقت را درك کرده اند که جنگ بر سر دوام قدرت است نقاب اسلام را بر رخ کشیدن جنایات شانرا نمی پوشد و افتاب به انگشت پنهان نمیگردد. در روستاهای کشوُر مان مثلی است که کبك سرخود را در برف فرو می برد و فکر میکند او را کسی نمی بیند که این خود دلیل بجهالت آن ها که ناشی از خود خواهی و جاه طلبی شان است می باشد.

سردمدار ناحیه یازدهم (خیرخانه) کابل می فرماید:

اگر شوراییکه از همه اقشار نمایندگی کرده بتواند موجود باشد من قدرت را به او سپرده استعفی میکنم.

این پروفیسور صاحب! گاهگاهی دم از تصوف می زند من خودم از زبان مبارك شان شنیده ام که پدرم صاحب حال بود و خودم نیز طریقت کرده ام باری از بهر صواب مثنوی معنوی را که طرف قبول همه مذاهب و نقل مجلس هر محفل است باز نکرده است و گرنه از این چهار بیت حضرت مولانا پند گرفته ملت بیچاره افغانستان را در اگر نمی بست.

آن غریبی خانه می جست از شتاب
دوستی بردش سوی خانه، خراب
گفت: او این را اگر سقفی بودی
پهلوی من مرترا مسکن شدی
هم عیال تو بیاسودی اگر
در میانه داشتی حجره، دیگر
گفت: آری پهلوی یاران بهست
لیك ای جان در اگر نتوان نشست

زمانی هم فکر میکند که قحط الرجال است و جز او کسی دیگری لیاقت این کرسی را ندارد و هیچ کاری از کسی ساخته نیست در حالیکه یکلی بخطا رفته و در هر بیشه، این نیستان شیر مردی خوابیده است که می تواند سالها جهان را اداره نماید.

«در بیشه گمان مبر کا حالیست،
«شاید که پلنگ خفته باشد»

یادونه

ښایي ستاسو ایمان به اجازه در نه کړي چې دا ډول سپېڅلې پاڼې په ناوړو ځایونو کښې وغورځوئ.

اداره

د جدي شپږمه پر افغانانو باندې د آفت د نازلیدو ورځ

ابو احسان

له ئن څخه پوره (۱٦) کاله مخکې په داسې حال کې چې دافغانستان مسلمان او-په وطن مین ملت په هیواد کې د کمونیستي واکمنۍ درا پرزولو په هلو ځلو بوخت و، دټولو نړیوالو موازینو او بشري پرنسیپونو پر خلاف د پخواني شوروي اتحاد سرو لښکرو په ډېره سپین سترګې زموږ پر خاوره وسله وال تیری وکړ او په دې توګه یې زموږ مسلمان او مجاهد هیوادوال له دوو سترو ازموینو سره مخامخ کړل، یو داچې دهیواد د خپلواکۍ بیرته تر لاسه کول او دوهم دا چې پخپل اسلامي هیواد کې داسلامي نظام ټینګول او دکمونیزم بیخې له منځه وړل وو.

دحق او باطل تر منځ به دې اوږدو خونړیو دغروکې ډېرې ککړېږم وږیدې، ډېرې ودانۍ کنډوالې شوې او ډېرې ملي او شخصي شتمنۍ ولوټل شوي، خو مسلمان افغانان چې دکوم هدف لپاره را پاڅېدلي وو او دکوم مقدس مرام لپاره یې چې لیچې راپورته کړې وې دحق په مقدسو سنګرونو کې په دوامداره توګه پرېوتل او دوخت د پولادي هرډول وژونکو او تباه کوونکو وسلو په مقابل کې یې خپلې سینې لکه د پولادو د دېوال په شان ونیوې او نتیجه داشوه چې په اصطلاح په شانه تلونکي او ماتې نه خوړونکي پوځ یې داسې مات کړ چې وروسته جوخت نړیوال کمونیزم هم دړې وړې شو.

هوا زموږ په اسلامي هیواد کې نړیوال کمونیزم مات شو، زموږ د مقدس جهاد په نتیجه کې د پخواني شوروي اتحاد تر واکمنۍ لاندې هیوادونه ازاد شول، د برلین تاریخي دیوال لړزې لړزې شو او دمنځنۍ آسیا پرهیوادونو د خپلواکۍ لمر را وخوت، خو له بده شامته موږ لکه څنګه چې لازمه وه هغه شان خپل هدف ته ونه رسیدو، موږ په دې بریالي نه شوو چې دخپل مسلمان او قهرمان ملت له ارمانونو سره سم په هیواد کې د دوی په خوښه اسلامي نظام ټینګ کړو او موږ ونه کړای شول چې پخپل جګړه ځپلي هیواد لږ تر لږه سوله او آرامي راولو تر څو په دې توګه زموږ دردېدلي او ځوریدلي هیواد وال پخپلو کنډوالو کې د ارام ساه واخلي او د وران شوي هیواد بیا ودانولو ته لیچې را ونغاړي.

که څه هم دغه ټولې بدبختۍ، دغه ټولې بدي ورځې، دغه ټول مصیبت او کړاو او دغه ټول رنځونه او تکلیفونه د ثور د ګرغیږني کوډتا او وروسی دجدي شپږمې ورځې د روسي پوځیانو د نظامي یرغل نتیجه او پاتې شونې دي، خو موږ چې ځانونه د خپل هیواد او خپلو خلکو خواخوږي بولو باید دې ټکي ته له اول نه متوجه وای او دیوه داسې میکانیزم په جوړولو مو فکر کړی وای چې دروسانو دوتلو او د داخلي کمونستانو د را پرزیدلو په صورت کې مو په ارامه فضا کې د هیواد دولتي چارې سمبال کړې وای او خپلو خلکوته مو دا په اثبات رسولي وای چې که مجاهدین د جګړې د ډګر پهلوانان دي، نو د دولتي چارو د سمبالښت اتلان هم دي، موږ په داسې حال کې چې زموږ پر اسلامي هیواد باندې دپخواني شوروي اتحاد دجدي د شپږمې نیټې پوځي یرغل ننداو دکرکې په سترګه وړنه ګورو پر خپلو ټولو مسلمانانو او په وطن مینو افغانانو غږ کوو چې خپل تاریخي مسؤولیت ته متوجه شي او په دې پوه شي چې مسایل په جنګ او جګړه نه حل کیږي بلکې د مسایلو د حل یوازینۍ لار منطق او دیر او پل خبرونه په غور نیولو او یو بل ته په قناعت ورکولو کې نغښتې ده، نو ددې لپاره چې زموږ مسلمان ملت تر دې زیات د جنګ او جګړو ښکارنه شي مصیبتونه او کړاوونه یې لا پسې اوږده نه شي او له همیشنۍ تباهۍ سره مخامخ نه شي، نو لازمه ده چې دکابل په محدوده او نیمګړې واکمنۍ ناست مغرور کسان د مقدس جهاد اهداف په پام کې ونیسي او له بې ځایه سرټمبګۍ څخه لاس واخلي ځکه دوی باید په دې پوه وي چې په زور کلي نه کیږي او افغانانو د تاریخ په اوږدوکې دا ثابته کړې ده چې دغه شان پر ځان مین واکداران نه مني، نو ښه به داوي چې د روسانو او دهغوی د غلامانو له شرمېدلې ماتې څخه عبرت واخیستل شي. نو په دې توګه به له یوې خوا زموږ ګټلي ویاړونه تر خاورو لاندې کیږي او له بله پلوه به موږ وکړای شو دخپل مسلمان او مجاهد ملت په خوښه په وطن کې یو داسې نظام ټینګ کړو چې دعدل او مساوات سمبول وي او دا په اثبات ورسوو چې رښتیا هم که افغانان دجګړې د ډګر پهلوانان دي، نو دیو واقعي اسلامي نظام د جوړولو اتلان هم دي.

یوه تاریخی پرتله...

چې په هیڅ ځای هیڅکله هم نه ووشوی.

کندهار د نهضتونو، غورځنګونو او خوځښتونو زانګو ده، همدلته دافغانستان واقعي او ریښتني واکمنی ټینګه شوی او احمد شاه ابدالی له هندی ځای نه ان تر پانی پت او ویلی پوری دجهاد لښکری او کاروانونه لیږدولی او له هندی ځای نه هندوستان ته د اسلام وړانګی رسیدلی دی.

په وروسته کی د مشروطه غوښتونکو او داسی نور نهضتونه همدلته را ټوکیدلی او د پخوانیو واکمنو د خپلسریو ناسمو کړنو او عملونو په وړاندی هم دلته د مقاومت مقابلی او تحریك مرکز او تاریخ جوړ شویدی. علامه اقبال وایی:

مرد ابدالی و جودش آیتی
داد افغان را اساس ملتی
قندهار آن کشور مینو سواد
اهل دل را خاك او خاك مراد
تربت آن خسرو روشن ضمیر
از ضمیرش ملتی صورت پذیر

امام الهند حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی (رح) ۱۱۱٤ – ۱۱۷٦ هـ ق د هندوستان څورا ستر عالم او بزرګ ؤ کله چې په هندوستان کی مرهټیانو په مسلمانانو پسی را واخیسته نو حضرت شاه ولی الله دهلوی په ۱۱٤۳هـ ق کال کی په حجاز کی د خپل خوب تعبیر د احمدشاه بابا په توره او میړانه کی وموند، ده (رح) احمدشاه بابا ته یو لیك واستاوه چې راشی او د مرهټیانو په منګولو کی دښکیلو پښتیل لیك کی احمدشاه بابا ته لیکلی ؤ.

«... در ملك هندوستان غلبه کفار باین صورت است که در بیان آمد و ضعف مسلمانان باین صفت، درین زمانه، پادشاهی که صاحب اقتدار و شوکت باشد و قادر بر شکست لشکر کفار جنگ آزما باشد غیر از ملازمان آنحضرت موجود نیست، لاجرم برانحضرت فرض عین است قصد هندوستان کردن و تسلط کفار مرهته بر هم زدن و ضعفای مسلمین را که در دست کفار اسیر اند خلاص فرمودن. اگر غلبه، کفار معاذالله بهمین مرتبه ماند مسلمانان اسلام را فراموش کنند و اندکی از زمان نگذرد که قومی شوند که از اسلام هیچ ندانند، این بلای عظیم است که قدرت دفع آن بفضل ایزد منان غیر انحضرت کسی را میسر نیست.

ما بندگان الهی رسول خدا(ص) را شفیع آورده بنام خدای عزوجل سوال میتمائیم که همت با نهمت رابجانب جهاد کفار این نواحی مصروف فرمایند تا در پیش خدای عزوجل ثواب جمیل در نامه، اعمال انحضرت ثبت شود و در دیوان مجاهدین فی سبیل الله نام نامی تان نوشته شود.»

دا دوی ځلور کاله زموږ هیوادوال له همغسی حالاتو سره مخامخ وو. د همداسی ټروپونو، حلقو او ډلو په منګولو او ناروا هوسونو په لوموکی ښکیل شول د هیچا عزت، ناموس، عفت سر او مال محفوظ نه ؤ دوطن د عزت او دجهاد د عظمت او ویاړ دنګ غلی له خاورو سره برابر شول او دملت په معنوی او مادی زیر مو او پانګو لوټ او تور دیوان قابض شول.

د نهضتونو، غور ځنګونو او خوځښتونو له هماغه تاریخی کندهاره د احمدشاه بابا په نقش قدم همدغسی یو ژغورنده لښکر او ملی زعامت راپورته شو او لکه بابا د جهاد علَم په لاس دادی د ظلم، ناروا او فساد دتیارو لن ورټولوی او دکابل دروازوته رسیدلی دی. د باز له ځالی باز الوځی ځکه خو...

دطالبانو اسلامی تحریك هم لکه داحمدشاه بابا تحریك پواځی د جهانګیری تحریك او غورځنګ ندی بلکی یو مصلح غورځنګ دی، یواځی د فتوحاتو لپوال ندی، یواځی د تشی واکمنۍ او اقتدار غوښتونکی او هیله من نه دی بلکی د اصلاح، خیر او نیکمرغی سپیځلی او دراانده اهداف ور سره دی او دهغو د تحقق لپاره جد او جهد کوی.

احمدشاه بابا د فقر مدعی ؤ، دتخت پرځای پر پوستکی کیناست د خدای د مخلوق له وینو توییولو نه ډډه کوله، مرهټی «بهاو» چې مرهټی لښکر دده مقابلی ته له دکن نه را پهولی ؤ، ده په پانی پت کی دزړه سوی له مخی هغوته د جنګ نه ګولو پیغام ولیږه خو مغرور دکنی سپهسالار دده استازی ته وویل: که احمد شاه تر کابله پوری سیمی مور ته پریږدی سوله به وکړو- احمدشاه بابا چې دا تریخ ځواب واورید وی ویل: اوس نو په جنګ کی زموږ مسؤولیت نشته د طالبانو داسلامی تحریك زعامت هم دواکمنی له تکلفاتو بی پروا دمادی جاه او جلال نه بی نیازه د اقتدار له هوس او تلوسی نه پاك او بی الایشه داصلاح خیر او خدمت په جذبه د جهاد او مبارزی بیرغ پورته کړی دوی د کابل واکمنو او نورو ټوپك والاوو ته همداسی پیغام ولیږه چې ملت له تاسی ناراضه دی، د شریعت نفاذ، د جهاد د اهدافو تحقق او د امنیت ټینګښت خو په ځای پریږده چې د وطن سالمیت هم خطر سره مخامخ او دنویو فاجعو ټوپانونه را والوتل خو هغوی د مرهټیانو ځواب تکرار کړ: مور په طالبان تر هغه ځایه په شانګ نه اړ کړو چې تو غندی یی مور ته راونه رسیږی. هماغه ؤ چې طالبانو اعلان کړه اوس نو په جنګ کی زموږ مسؤولیت نشته...

د طالبانو تحریك زعامت یواځی پخپلو جنګی سوقیاتو او تشکیلاتو جهانګیري او تکیه نکوی بلکی له توری سره د فضیلت علم او تقوا شودنه کوی او له توری سره دمعنوی او روحانی لارښوونی معیارونه را منځ ته کوی او په عمل کی دا هر څه لومړی له خپلو ځانونو پیلوی او پخپله یی عملی کوی.

احمدشاه بابا دوولس زره مرهټیان چې د پانی پت په جګړه کی نیول شوی وو خوشی کړل په یوه بل تاریخ کی دا شمیر دو ویشت زره ته ښول شوی او دغونډیانو ته بی دخوشی کیدو پر وخت دوی دوی روپی او یوه یوه شړی هم ورکړه.

همدا اوس د طالبانو تحریك په هرات کی له یوځی اسیرانو سره د همداسی عالی همت او ځوانمردی ځرګندونه وکړه: او هغوی ته یي دخوشی کیدو پر وخت، نقدی پیسی او جامی ورکړی او سه یی ونازول.

دانتقام، کسات او غچ اخیستلو هیڅ اقدام و نه لیدل شو بلکی د خوا خوږی زړه سوی او محبت غیری ورته پرانستل شوی.

نوربیا

د ادب ملغلری

غلام نقشبند «علی خیل»

طالبان حاکمیت د قرآن غواړی

دروِمی طالبان حاکمیت نن د فرقان غواړی
پاکه اسلامی معاشره قانون قرآن غواړی
دروِمی طالبان د اسلام په لار جهاد کوی
دی ښکلی ګلشن نه خاتمه نور دفساد کوی
لوږ رپاند په ملك کښی اسلامی بیرغ نشان غواړی
پاکه اسلامی معاشره قانون قرآن غواړی
غواړی په سرو وینو کړی خروب تر او تازه باغچه
دا دمحمد ددین سپیځلی او ښایسته باغچه
فخر کړی سرونه په دی لاره کښی قربان غواړی
پاکه اسلامی معاشره قانون قرآن غواړی
ټول دخدای په لار کښی په اخلاص او صداقت دروِمی
ځکه یی ټولی ټولی په تنګ واړه ملت دروِمی
راز دکامیابی نی ده خپل ملك اباد ودان غواړی
پاکه اسلامی معاشره قانون قرآن غواړی
سپین کفن په سر دجنګ میدان نه طالبان دروِمی
ټول په شوق او ذوق د دین د شمعی پتنګان دروِمی
بله ددین شمعه نن په ټول افغانستان غواړی
پاکه اسلامی معاشره قانون قرآن غواړی
هر جای خائینان په چغو سردی وا وټیلا کوی
دوی د طالبانو په ضد هر قسم ویتا کوی
ځکه په دی پوه دی په دار زوړند خائینان غواړی
پاکه اسلامی معاشره قانون قرآن غواړی
نشته علی خیل سره هیڅ نشته چه کمك وکړی
دی په خالی لاس او په قلم به څه کمك وکړی
تل نی د نصرت دوعاله پاك غنی سبحان غواړی
پاکه اسلامی معاشره قانو قرآن غواړی

غم دپاسه غم

ملا اسدالله (حنیفی)

دا دجدی فاجعه وه — څومره ستره سانحه وه
آزادی ناوی بی مړه کړه — څه د ظلم نظاره وه
سرو لښکرو یرغلونه — کور په کور ماتم ویرونه
څه دوینو رود روان و — څه لښکری څه ټانکونه
سری ګولی راوریدلی — هر خوا وینی بهیدلی
په هیواد می جوړ ماتم و — بوری میندی ژړیدلی
دا دجدی ارمغان و — چې دوینو رود روان و
دوحشیانو تاړاکونه — هر خوا چیغی های سوران و
د آسمان لمنی سری وی — څه دغم ناری سوری وی
هر سړی په وینو رنګ و — وحشتونو نظاری وی
کور په کور ویر او ژړاوه — که دوهمه کربلاوه
سرولښکرو وژل خلك — څه دظلم انتها وه
توری وریځی را خوری شوی — ارزوګانی هیلی مړی شوی
خنداګانو کړی وکړی — کورپه کور دغم ناری شوی
دنګو دنګو غرو سرو کښی — د پغمان ښکلو درو کښی
بلبلان په غم اخته شول — هندوکش په ګرنګو کښی
غم دغم دپاسه غم و — هره خوا ویر او ماتم و
ترمی ترمی اوښکی تللی — هر سړی سترګو کښی تم و
خزان توی کړله ګلونه — نیمه خوا شول امیدونه
نن نه شپاړس کاله وړاندی — تاړاك وځپله زړونه
دا دجدی تور نمونه — په وطن کښی ویر غمونه
آزادی طوطی بندی شو — د بلبل مات شول وزرونه
را خوری توری تیاری شوی — خپلواکیو ډیوی مړی شوی
حنیفی خونه شوه ورانه — په وطن بی زلزلی شوی

افتادگی اموز اگر طالب فیضی — هرگز نخورد اب زمینی که بلند است

ستاسو لیکونه

زموږ ځوابونه

دشریعت اونیزی درنو مسؤولینو!
سلامونه نیکی هیلی او دعاګانی مو قبولی کړی!

کوم وخت مو چې د باغوانانو په بازار کښی د شریعت تر نوم لاندی لومړی ګڼه اونیزه اخبار ولید خدای شته دومره پری خوشحاله شوو لکه ټول افغانستان چې دطالبانو په لاس فتح شوی وی.

په پای کښی له لوی خدای(ج) نه درته د اونیزی د دوام او ۱ بریالی تونونو هیله من یو.

په درنښت

* * *

محمداجان خیاط او ملګری، عبدالغفار ګل دوز اسدالله نزاکت او ټول شاګردان له باغوانانو بازارنه.

* * *

درنو دوستانومحمداجان خیاط،

عبدالغفارګل دوز او ورسره ملګرو سلامونو ته مو وعلیکم وایو.

په سر هیلو پوښلی لیك مو دادی کټ مټ درته خپور کړ.

* * *

دطالبانو د اسلامی تحریك د (شریعت اونیزی) درنو کارکونکیو سی هیلی او سلامونه می قبول کړی.

دخوارلس کلن مقدس جهاد په وخت کښی به چې ما دطالبانو تر سرپرستی لاندی د (حقیقت الاسلام) جریدی کالمونه لوستل ډیر به خوشحاله کیدم او تنده به می پردی اوبه کیده خو کوم وخت چې د طالبانو جریده (حقیقت الاسلام) بنده شوه باور وکړی تر اوسه تږی وم.

خو نن می چې بیا د طالبانو د (شریعت او نیزی) لومړی ګڼه تر سترګو شوه د ټول عمر تنده می سره سوړه، هغه خو لا پریږده چې لومړی ګڼه یی دومره معیاری وه چې راتلونکی یی په ډیره روښانه برېښی.

د(شریعت اونیزی) مینوال بسم الله (فهیم) له باغوانانو نه

* * *

بسم الله (فهیم) ووروره لیك دی واورسید سلامونو ته دی وعلیکم وایو!

له نیك نظر نه دی منته، لیك مو کټ مټ درته خپور کړ ستاسو د سو نظریو نه سترګی په لاره.

* * *

د (شریعت او نیزی) درنو کارکونیکرته دزړه له تله نیکی هیلی لیکم!

رب العزت دی وکړی چې په خپلو سپیڅلو دندو کښی کامیاب او نیك مرغه یی.

قدرمنو!

د لوی خدای(ج) په مرسته او ستاسو په هلو ځلو چې د افغانستان مجاهد ملت ته د طالبانو د اسلامی تحریك ځوا د (شریعت اونیزی) زیری، او سرمایه وریه برخه شوه د دیری خوشحالی او افتخار مقام دی تر څو د ځوریدلی ملت دضمیر فریاد، کړیکی او هیلی د نړیوالو سترګوته کیږدی.

چې ددی خوشحالۍ سیلی په ما هم ولریده او وی هڅولم چې د (شریعت اونیزی) ته یو نظم (دطالب سرغات) او یو مضمون (دطالب احساس) تر سرلیك لاندی دروااستاوم خدای(ج) وکړی د اونیزی په کالم کښی خپور شی.

په اخر کښی په افغانستان کښی د اسلامی لوا د لاپسی رپاندہ کیدو په هیله.

طالب العلم عبدالله (حسینی) له باغوانانونه.

* * *

طالب العلم عبدالله (حسینی) ووروره لیك دی راورسید له نیکو احساساتو دی منته، لیك او شعر به دی خپور شي د مضمون په هکله درته لیکو یو ځل بیا غبور پری وکړی تر څو د خپرولو معیارته برابر شی.

ایا ادعاهای مخالفان بر تحریك اسلامی طالبان حقیقت دارد؟

ش «شهاب»

درست زمانیکه تحریك اسلامی طالبان بنابر ضرورت مبرم و تقاضای وقت و زمان استوار بر پایه های شریعت اسلامی و روی هدف مشخص که همانا استقرار حکومت اسلامی و حفظ آرمانهای مقدس جهاد و هدف نهایی یك و نیم ملیون شهید می باشد بمیان آمد دشمنان اسلام و هم یکتعداد گروه های که منافع خود را در خطر میدیدند دست به تبلیغات بی اساس و ناروایی زدند و طالبان را که یگانه امید مردم مظلوم و زجر کشیده، افغانستان به حساب می روند و کلاً تربیت یافته، مکتب جهاد و مبارزه و ایثار و قربانی اند و یگانه نسل با اعتماد و ثمرهٔ جهاد چهارده ساله در مقابل ابرقدرت روسیه محسوب می گردند، آله، دست بیگانه گان و خارجی ها و یك فکر بیگانه معرفی نمودن، تا باشد ذهنیت عامه را خدشه دار سازند و با این حربه های کهنه یك بار دیگر منافع ناروا، شخصی و تنظیمی خود را تأمین نمایند. غافل از اینکه ملت دیگر از جورشان بستوه آمده است و دیگر هیچ گاهی بالای این ادعا های پوچ و بی اساس ایشان باور نخواهد کرد، زیرا که ملت از عهد شکنی و نقض هزاران پیمان ایشان، حتی پیمان کعبه، صد داغ بدل دارند و همه میدانند تنظیم های جهادی که زمانی رسالت جهاد و قیادت ملت افغانستان را بدوش داشتند اکنون بسوی دلدازاری پر از تعفن هبوط نموده اند.

هدف اساسی از نوشتن این سطور آنست تا ببینیم آیا راستی هم طالبان یك تحریك اجنبی می باشد؟ پیروزی های برق آسای طالبان منوط به مداخله، خارجی است یا مربوط به نصرت خداوندی؟

آیا راستی طالبان قرار ادعای پوچ و بی اساس اداره، ناروای کابل اشخاص مجهول الهویه و فاقد اراده اند یا اینکه افراد مدبر، کاردان و فرزندان اصیل کشور اند؟

قبل از آنکه به اصل موضوع بیایم و سوالات فوق را مورد بررسی و پژوهش قرار دهیم باید یاد آور شوم که نگارنده بیاد دارد زمانیکه تحریك اسلامی طالبان عملاً دست بکار شد در جریده، «اتحاد» که بیانگر آرمانهای تنظیم اتحاد اسلامی می باشد. مضمونی به چاپ رسید که در آن از طالبان مزمت به عمل آمده، دیری نگذشت در شماره، بعدی آن جریده شورای اجرائیه، اتحاد که در رأس آن شخص استاد سیاف قرار داشت فیصله نامه، صادر کرد و نشر مضمون را یك اشتباهی بزرگ دانست حتی اینکه نویسنده، بیچاره را واجب به مجازات قلمداد کرد و هدایت دادند تا در مورد تحقیقات صورت گیرد و مضمون دیگر تحت عنوان «طالبان څوك دی» منتشر نمودند که در آن از طالبان بنام های مختلف مانند فرزندان اصیل کشور، طلاب مدارس دینی، علمبرداران راه، حق، اهل خبره، وارثین شهدا و جهاد، مشعل تابان انقلاب اسلامی و ... یاد کردند و بعد از آن هر دو نشریه وابسته به حکومت ناروای کابل (اتحاد و فتح) و دیگر بنگاهای تبلیغاتی آن اداره برای طالبان دعاهای نصرت و پیروزی استدعا می نمودند.

اما زمانیکه منافع آنها در معرض خطر قرار گرفت همین مداح های افراطی دو باره خلاف گذشته دهن بر هزیانات و برسامات گشودند و دیوانه وار همان طالبانی را که تا «... فرزندان اصیل ملت و ... بودند، خارجی، مجهول الهویه، کمونست، باغی و تخریب کار معرفی کردند، که همین دو رویی مدعیون خود کذب ادعای ایشان را ثابت می سازد. ولی برای آنکه جواب قناعت بخش و علمی به سوالات بالا داده باشیم بهتر است مطابق آن قاعده، کلی عمل نمائیم که حضرت علی کرم الله و جه آن را مشعل راه، خود قرار داده و همیش به مسلمانان توصیه میکرد تا در وقت ادعا و یا تهمت مطابق آن عمل نماید.

خلیفه، راشد علی مرتضی (رض) به این معنی میفرماید «وقتی حرفی یا ادعای را شنیدی اولاً آنرا به ترازوی عقل بسنج، ثانیاً تحقیق نما، ثالثاًیقین حاصل کن و رابعاً قدم عملی بردار». حالا ادعا های که وارد است وسوالاتی را که مطرح نمودیم داخل این قاعده بسازیم که چگونه از آب در میاید.

اولاً تمام این ادعا ها را به ترازوی عقل بسنجیم.

مبرهن است که طالبان امروز بر پانزده ولایت کشور که یك قسمت بسیار بزرگ کشور می باشد حاکمیت عام و تام دارند و در مناطق تحت کنترول خویش آنچه را بزبان گفتند در عمل پیاده کرده اند و در این پانزده ولایات هیچ گونه شکایت علیه آنان وجود ندارد. تاحال احدی از افراد این تحریك مرتکب کوچك ترین خطایی نگردیده است و نه هم خانه، کسی ویران شده و نه دارائی کسی به تاراج رفته است، نه بر ناموس کسی تجاوز صورت گرفته و نه بالای مظلومی ظلم شده است و نه هم تا اکنون عمل بر خلاف شریعت غرای محمدی از افراد این تحریك صورت گرفته است.

اگر شخصی مرتکب جنایتی بنوع از انحا گردیده و یا عمل نموده است که مخالف عدالت اجتماعی باشد مطابق شریعت اسلامی باوی معامله صورت گرفته است.

حالا بیآید ببینیم در طول چهارده سال جهاد و در طول تاریخ افغانستان که در زمان های مختلف حکومت های گوناگون بمیان آمده است، مثال آن وجود دارد؟ هویدا است که جواب منفی است، زیرا به چشم سر دیده ایم آنکسانیکه فریاد های عدالت عمری و عدل الهی میزدند، وقتی بالای یکولایت و یا یك ولسوالی حاکمیت حاصل می نمودند تمام اموال بیت المال را به غارت می بردند و از هیچ گونه تجاوز بر ناموس، عزت، مال و جان مردم بی گناه دریغ نمی ورزیدند، حتی آنکه خانه ها را به آتش کشیده و باقی مانده، دارائی منقول و غیر منقول عامه و شخصی مردم را به قیمت ناچیز بفروش می رساندند، و هم اگر کسی مرتکبجنایتی میشدهیچ گونه مرجع قانونی وجود نداشت تا به مرتکبین جزای شرعی بدهد و یا حق مظلوم از ظالم ستانیده شود.

فلهذا به صراحت میتوان گفت حاکمیت طالبان و تحریك آنها الگوی و بی نظیر بوده و تاریخ افغانستان چنین دوری را در حافظه، خویش ندارد. تماماً دلایل فوق نشانده، یك نوع اخلاص خاص به شریعت اسلامی و یك احساس بس بزرگ است که در دل فرد فرد افراد این تحریك وجود دارد که هیچ تحریك و یا جنبش نظیر آنرا نداشته است.

حال بیائید به ترازوی عقل بسنجیم آیا ممکن است–افراد فاقد اراده، بی هدف و مجهول الهویه چنین نظام بزرگ را تشکیل دهند؟؟

آیا خارجی ها در افغانستان چنین نظم را می خواهند؟؟ آیا در دنیا ابر قدرتی وجود دارد تا نظامی را بوجود آورد که در سینه، فرد فرد آن محکمه موجود باشد؟؟ آیا چنین اخلاص که درتحریك طالبان موجود است درتحریك های دیگروجودداشته است؟؟

واضحست که هرگز نه، پس دانستیم که ادعای معاندانه معاندین از نظر عقل و منطق مردود بوده و نمی تواند بر جامه، سپید طالبان بر چسپ گردد.

بیآیید به بند دوم قاعده برویم و تحقیق نمائیم که آیا ادعاهای مخالفین حقیقت دارد؟ طبعاً در مناطق که تحت کنترول طالبان دینی است مردم زندگی می کنند، اگر با آنها بی عدالتی می شد حتمی شکایت میکردند، اگر ظلم و ناروا صورت می گرفت بی داد می نمودند، اگر کدام خارجی در صفوف طالبان می بود او را میدیدند و اگر افراد طالبان را مخلص نمی یافتند با ایشان معاونت و همکاری نمی نمودند.

اگر در موضوع کمی ژرف بنگریم و تحقیق نمائیم، کذب معاندین به خوبی آشکار می گردد که آنها به ادعای خویش صادق نبوده و صرف از آن بخاطر بقای وجود ناروای خود استفاده، سؤ می نمایند.

ثالثاً مطابق قاعده وقتی تحقیق صورت گرفت یقین حاصل می شود که واقعاً تحریك طالبان از فرزندان صدیق کشور و مخلص به شریعت محمدی تشکیل گردیده است و ادعا های معاندین بی اساس بوده و افترای بیش نیست.

رابعاً وقتی مطابق عقل و تحقیق یقین حاصل نمودیم و دانستیم که تحریك طالبان یگانه راه، نجات کشور از بحران کنونی و بدبختی دامن گیر ملت می باشد، پس لازم است مطابق بند چهارم قاعده، حضرت علی مرتضی (رضی الله عنه) قدم عملی برداریم و در ساحات اعم از نظامی، سیاسی و فرهنگی دست بدست هم داده و در یك فضای اسلامی و اخوت دور از تمام تعصبات قومی و نژادی بخاطر احیای حکومت اسلامی در افغانستان که یگانه ارمان شهدای کشور می باشد تحت رهبری و رهنمایی این تحریك بسیج شویم.

دمسلمانی عقیده

غازی خیل

له دی نه مخکی چې داسلامی عقیدی بحث پیل کړو، ضرور ده چې لومړی د دغه بحث په اهمیت ځان و پوهوو:

عقیده په اصطلاحی معنی سره ایمان دی او ایمان دمسلمانی د هغې دنګې او ښکلې ماڼۍ لومړنی بنسټ دی چې الله تعالی د هغې په سبب دجنت رښتینه وعده راکړی ده: یعنی دمسلمانی ټول عبادتونه او نیك عملونه پر ایمان ولاړ دي، که ایمان نه وي او ورسره سم صحیح نیت نه وی هیڅ عبادت او نیك عمل نه شرعی اعتبار لری او نه د قبول وړ دی:

که موږ دلته د «ایمان مجمل او ایمان مفصل» روانه او عام فهمه ترجمه او مطلب خپروو نو ښایي چې: ځنی خلك داسی ګومان وکړی چې دغه کار چندانی ګټه نه لري، ځکه: دغه ترجمه او مطلب خو لا په وړکتوب کې هرچاته دجوماتو ملاصاحب وروزده کړی دی:

مګر حقیقت دادی چې د عقیدی لومړنی خبري، د مسلمانی د بنسټ لومړنی تیږه ده، ډیر مسلمانان به په وړکتوب کې یا خو جوماتو ته تللي نه وي یا به په دغه مطلب سم پوهیدلي نه وي یا به یې بې پروایي ورسره کړې وي.

څومره چې موږ ته دخپلو مسلمانانو ورونو او خویندو حال معلوم دی – ان تردی چې تعلیم یافته هم وی – دایمان او عقیدی په هکله دیر څه واضح او روانو معلوماتو خپرولو سخته اړتیا لري

له دی امله غواړو د شریعت په اونیزه کښي د شریعت له نورو احکامو څخه مخکښي د عقیدی او ایمان بنسټیز معلومات خپاره شي: هیله ده چې ګران لوستونکي یې په غور سره ولولي او حافظې ته یې وسپاري.

«ایمان مجمل»

امنتُ بالله کماهو:

ایمان می راوړی (باور او یقین می کړی دی) په الله تعالی باندی هغسی باور می ورباندی کړی دی لکه څرنګه چې الله تعالی په واقع کې هغسي ده یعنی د ټولو هغو کمالونو خاوند دی چې دده له خدایی سره وړاو مناسب دی او له هغو ټولو عیبونو څخه پاك و مبرا دی چې دده له خدایی سره نامناسبه دی.

باسمائه و صفاته:

په داسی حال کښي چې نومولی دی (یا دولای یی شو) په هغو ټولو نومونو چې په شریعت کښي راغلي دي، او دده جل جلاله په ذات پوری دي هغه ټول ذاتي او فعلي صفتونه چې په شریعت کښي راغلي دي.

یادونه: ددغې جملې (امنت بالله کما هو باسمائه و صفاته) بله معنی داسی راغلی ده: امنت بالله کما هو باسمائه و صفاته:

ایمان می راوړی دی (باور می کړی دی) په الله تعالی باندی لکه چې زما باور او ایمان دی په نومونو دده باندی او په صفتونو دده باندی.

وقبلتُ جمیع احکامه:

ټول حکمونه یې ما منلي دي: که یې په امر سره ثابت شوي دي او که په نهی سره: په امر سره یې فرض، واجب، سنت او مستحب ثابت دي او په نهی سره یې حرام او مکروه ثابتیږي.

اقرار باللسان و تصدیق بالقلب:

دا وینا می په ژبه اقرار او په زړه باور دی.

یادونه(۴): په ایمان کښي دخولي اقرار او دزړه باور دواړه ضروري رکنونه دي، چې هر یو نه وی ایمان نشته دی مګر په اکراه (زوړلو یا دبدن د کوم غړی له منځه وړلو په ویرولو) سره که مسلمان د ایمان اقرار په خوله ونه کړي (پټ یې کړي) خو زړه یې له ایمان نه ډك او په ایمان ډاډه وي نو الله تعالی دغه مسلمان ته اقرار عفوه کوي او ایمان یې په ځای ګڼلی شي: له دی امله څینو د دین بزرګانو (لویو علماوو) رحمة الله تعالی علیهم ویلی دي چې: اقرار په ایمان کښي رکن نه دی، بلکې پر مسلمان باندې د ایمان دحکمونو چلولو لپاره شرط دی ځکه یې په ټولو سره ایمان له منځه نه ځی په رشید البیان کښي په دی هکله داسې راغلي دي:

۱– دوه رکنون د ایمان دی:
پوشیده نه دی عیان دی.
۲– یو اقرار دویم تصدیق دی:
مایی کړی ښه تحقیق دی.
۳– چې په ژبه اقرار وکا
هم په زړه اعتبار وکا.
٤– دی بی شکه مسلمان دی:
مسلمان اهل ایمان دی.
٥– که په ژبه اقرار وکا
او په زړه اعتبار نه کا.
٦– دی بی شکه منافق دی:
پری ایت حدیث ناطق دی.
۷– که په زړه اعتبار وکا
او په ژبه اقرار نه کا.
۸– دی و شرعی نه کافر دی:
نوریی خدای (ج) ته حال ظاهر دی.

(ب) دغه امنت بالله.. ځکه ایمان مجمل بللی شی چې ډیر تفصیل پکښي نشته دی.

(ج) د ایمان مجمل پر معنی چې څوك باور وکړي او په دغو الفاظو، یا په کلمه طیبه، یا په اشهد کلمه یا دتوحید په کلمه اقرار وکړی دغه کس په شریعت کښي مؤمن ګڼلی شی– که ایمان مفصل یی لازده کړی نه وی هم – خو شرط یی دادی: چې دتکذیب او نفاق څرګندي نښې [illegible] نه وی

(نور وروسته)

مسلمانان را خداوند تعالی به آنچنان بندگی ...

صورت نگرفته است.از آنجا که خداوند تعالي مسلمانان را بطرزی از بندگی وحکومت سازی مکلف گردانیده است که: خواسته اوتعالی بوده بحصول رضا وخورسندی وي بیانجامد؟ کوششها و قربانیهای ما برای بدست اوردن همین هدف است، هرمسلمانیکه با ما در حصول این هدف همدردی و همراهی از خود نشان بدهد برادر ما است؟ زیرا مسئله چوکی وقومیت و زبان پیش ما هیچ مطرح نیست از مکلفیت های لازمی مسلمانان اینست که امیر داشته باشند. وقتیکه ما خود را مسلمان میدانیم بحق بندگی اوتعالی مکلف میباشم و باید وعده خود را با اوتعالی به اتمام برسانیم.

در بسر رسانیدن این اهداف عملکردما تا اندازه ای تجربه شده است، از این جهت بالای همه مسلمانها حتمی است که این کار را به اتمام برسانند - و من الله التوفیق.

***

تول طالبان د ورونو پشان ژوند کوی...

ضد عناصرو تبلیغات دي چی درښتونی مسلمانانو په مینځ کی د تبعیض خبری کوی الحمدلله موږ مسلمان یو او مسلمانان د یو غار نه دوه ځلی باید او نه چیچل شی. او موږ د اختلاف نتیجی په خپلو سترګو کتلی دی ټولو مسلمانانو طالب العلمانو ورونو ته دی معلومه وی چی د دښمن ټولی دسیسی شندی کړی دښمنان زموږ په ضد هر وخت کار کوی باید ښه تحقیق اوشی.

پوښتنه: دا چی د اذان په اوریدو ټولی لباری وتړل شی او خلق دجماعت خواته سوق کیږی دا کار کله پیل شو؟

ځواب: د ۱۳۷٤ د قوس د میاشتی په شلم تاریخ په کندهار کی پیل شو او امید دی چی په نورو ولایاتو کی به هم دا کار ډیر زر پیل شی.

پوښتنه: مسعود خپلو پلویانو ته وائی چی د طالبانو نظامی قوتونه به د ژمی په یخنیو کی په شاتګ ته مجبوره وو تا سی پدی اړوند څه وائی؟

ځواب: د کفر، ظلم او افساد په مقابل کی قیام یو عبادت دی او مسلمانانو ته یخ او ګرمی په عبادت کی یو شی دی، د هیڅ شی نه نه ستومانه کیږی ډیر ځله مو ورونه لیدلی دی چی د لمانځه لپاره یی کرل مات کړی او اودس ئی ورباندی کړی.

پوښتنه: عبدالرسول سیاف ډیری ګړندی منډی وهی ترڅو یو ائتلاف د طالبانو په مقابل کی جوړ کړی، ایا دا به څه نتیجه ورکړی او که څنګه؟

ځواب: سیاف یو قدرت طلبه شخص دی او هر وخت خلق دوکه کوی او ځان قدرت ته رسول غواړی، ده په یوه رساله کی ویلی وه چی وکه زما په قومندانانو هر څوك حمله کوی باید سلاح ورته پریږی، خو دی پدی خبره کی کاذب شوو او د اسلام په خاصو سپاهیانو یی (طالبانو) لومړی ده سلاح راواخستله او ډیر زر به ان شاء الله دده ټولی هیلی له خاورو سره خاوری شی.

د اهل تشیع یو شمیر نمایندګانو ...

پیل کړی او پری په نژدی چی د ربانی او سیاف مزدوره اداره نور د افغانانو په سرنوشت لوبی وکړی.

راپور زیاتوی چی په پای کښي د راغلو نمایندګانو لخوا د هر راز کومك او ملاتړ ژمنی وشوی چی ددغی کتنی په برکت په راتلونکو کی د نورو ګټورو خبرو زمینه ښه برابره شوه. او د اهل تشیع ورونو وعده وکړه هغه ټوپکو به چی د هلیکوپتر پطری چارجولی شي اسلامی تحریك ته ورکوو.

په هیئت پوهنتون اسلامی هرات ...

تحریك اسلامي طالبان.

جناب مولوی نور محمد ثاقب، مولوی شهاب الدین دلاور و مولوی محمد مسلم حقانی درمحوطه نماینده گی صوبه سرحد پشاور ملاقات کردند و از پیش آمد طالبان در مقابل دانشگاه و کارکنان آن اطمینان و خرسندی اظهار داشته از امنیت که در آن ساحات حاکم میباشد تأثیرات مثبت و نیك خویش نشان دادند وافزودند که پوهنتون ان شاء الله در شهر هرات در ماه شوال به فعالیت آغاز خواهم کرد.

متعاقبا از طرف نماینده گی طالبان برای هیأت محترم پوهنتون اطمینان داده شد که در تمام ساحات تحت اداره تحریك اسلامی طالبان براي فعالیهای علمی و فرهنگی مخلصانه بشمول پوهنتون متذکره هر نوع شرایط آماده و مهیاء بوده آنچه در توان تحریك از هر نوع خدمت و همکاری باشد از ارشان دریغ نخواهد کرد.

هیأت پوهنتون افزودند که به اساس پروگرام که در نظر است:

یك بخش مربوط پوهنتون در شهر جلال آباد افتتاح خواهد شد.

در هیأت پوهنتون ذوات ذیل اشتراك داشتند.

داکتر ابوحمزه معاون پوهنتون، استاد شفیق الله امین رئیس پوهنی شرعیات استادعبدالواحد فراهي، استاد عبدالرؤف مسؤل اداري و استاد نقیب الله.

***

د کندهار سارد ADA مؤسسی په انګر کی ...

په زړه پوری خبری وکړی.

خبر وړاندي لیکی د انکشافی تربیوی موسسی مرستیال ښاغلی سمون صاحب د غونډی برخوال په خاصه توګه سمینار ته راغلی استاذان دافغانستان د تباه شوي ښوونی او روزنی ته متوجه کړل او زیاته یی کړه موږ له درنو استاذانو څخه هیله لرو چی د افغانستان د مظلوم ملت بچیان په بشپړه اسلامی روحیه تربیه ترڅو د ګران افغانستان د راتلونکی د پاره د خدمت سبب وګرځی.

***

تحريك اسلامی طالبان آرزومند علایق خوب ...

محترم امام علی روشنی انداخته گفتند:

قیام ما تنها در کشور عزیز افغانستان به منظور حاکمیت قرآن کریم، حفاظت ننگ و ناموس، مال، عزت، و شرف مردم آغاز گردیده است.

همچنان برای امام علی اطمینان داده شد که تحریك اسلای طالبان آرزومند ادامه، علایق خوب با همه دول همسایه میباشد. اما بعضی از دول همسایه بطور مستقیم در امور داخلی ما مداخله میکند و همرای اداره، نام نهاد ربانی کمکهای نظامی و اقتصادی مینمایند، که ما از این رهگذر ها مسؤولیت نداریم.

در اخیر آرزومندی علایق خوب دیپلوماتیك بین طرفین آرزو شد.

***

د دلارام په سیمه کی د مهماتو یوه لویه زیرمه کشف شوه

د (شریعت اونیزی) خبریال خبر راکوی چی د دلارام په سیمه کی د هیواد دښمنه کسانو لخوا یوه زیاته اندازه مهمات ځای پر ځای شوی و تر څو په دی بریالی شی چی له هیواد څخه د پاندی یی د پلورلو په خاطر یوسی، چی د حاجی خلیفه صاحب د مجاهدینو لخوا کشف او ونیول شوه.

خبریال لیکی په نوموری زیرمه کښی دغه لاندی مهمات پټ شوی و یو پایه زیکویو او (۳٤) صندوقه مرمي یی (۱۷۰) صندوقه د ټانګ ګولی (٦٣٠) د هاوان ګولی (۱۱۲) د هشتادوپنج ګولی (٦٠) د توپ ګولی (٢٠) میزایل (٨) د غرنی توپ ګولی (١٢) د دافع هوا ګولی (٢٢) د زوهدار ګولی او یو زیات شمیر د سپکو وسلو مرمی شاملی دي.

د طالبانو د اسلامی تحریك سپیڅلو مجاهدینو ...

او دری پوستی په دوغ آباد کی فتح کړی، چی په هغو کی زیکویك، دهشکی، هاوانونه او زیات شمیر مهمات په غنیمت نیول شوی دی.

دجدي په (٦)مه دطالبانو داسلامي تحریك دمرستیال الحاج ملامحمد رباني تر ریاست لاندي دکندهار ولایت په مقر کښي دعالي شوری غونډه دایره شوه

له کندهار نه دوشریعت اونیزي، ځانګړي خبریال راته لیکی د(۱۳۷٤)هـ ش کال دجدي په (٦)نیټه دطالبانو اسلامي تحریك دمرستیال الحاج ملامحمد رباني ترریاست لاندي دکندهار ولایت په مقر کښي دعالي شوری غونډه جوړشوه.

خبرځاي زیاتوي په شوری کښی دافغانستان دآزادو ولایتونو په اړونده داجتماعي سیاسي، تعلیمي، او اداري چارورد لا ښه والی په اړونـدو وږدي خبري وشوي.

اوهمدا راز دهغو ولایتونو چی تراوسه دریاني مکاري اداري تر جبر لاندي دي پولرتصمیمونه ونیول شول اولازمي پریکړی وشوی.

دپاکستان له سند ایالت کراچی نه راغلیو علماء کراموسره چی معصوم (افغانی) هم ورسره ودکندهار والي الحاج محمد حسن اخند دولایت په مقرکښی وکتل

له کندهار نه دوشریعت اونیزي، خبریال ربوت راکوي چی دجدی دمیاشتی په (۷) مه نیټه دپاکستان له سند ایالت کراچی نه دعلماء کرامو له راغلیومیلمنو هر یو محترم مولانامفتی عبدالرحیم محترم مولانا نورمحمد او دصدای اسلام مدیر معصوم افغانی سره دکندهار ولایت ته تشریف راوری و دکندهار والی الحاج ملا محمد حسن اخند سره یی دولایت په مقر کښی وکتل.

خبرزیاتوییه دغه لیدنه کښی په رواتو حالا تو په زړه پوري خبري وشوي چی راغلیو میلمنو داسلامی تحریك دفتوحاتو چی دافغانستان زیاته برخه دشر او فساد څخه ژغورلی پرځاي یی امنیت تامین او شریعت تحقق مېندلی پوره خوښی څرګنده کړه او زیاته یی کړه تول عالم اسلام دي حقیقت ته رسیدلی چی که خدای کول دطالبانو اسلامی تحریك به وکولایی شی په ټول افغانستان کښی سپیڅلی اسلامی نظام حاکم او شریعت نافذ کړی اوهغه ورځ لری نه ده چی دټول اسلامی امت دغه سترارمان پوره اوتنده ماته شی

په پای کښی دکندهار والی صاحب دمیلمنو دنیك نظر څخه مننه وکړه اوداو یی ورکړ چی دلوی خدای په نصرت اودافغانستان دمسلمان ملت په ملاتړیه دتولودغه شریك ارمان چی په وران وطن کښی دېشپړ امنیت تامینول اودشرعی نظام جوړول دی پوره شی.

ما از صفر آغاز کردیم ...

صفر آغاز کردیم والله الحمد بوقت خیلی کم اموارت مربوط مطبوعات را تنظیم کردیم و روزنامه، تاریخی طلوع افغان در حالی به فعالیت مجد آغاز نمود که مشکلات نهایت زیاد بود و وسایل دست داشته، طباعتی کهنه و تقریباً غیر فعال بود. مولوی صاحب افزودند: از طریق بدست اوردن وسایل و سامان الات رادیوئی از ولایات که تحت اداره، تحریك قرار داشت قادر گردیدیم که رادیوی قندهار فعال گردیده و آغاز به فعالیت نماید که الحمد لله تا حال بنشرات خود بوجه خوب ادامه میدهد.

مولی صاحب گفتند: در این اواخر قادر گردیدیم که جریده، بزبان عربی بنام (البدر) و بزبان اردو بنام (صدائی اسلام) و بزبان انگلیسی بنام (وآئس آف مجاهد) (صدائی مجاهد) تأسیس نمائیم که خوشبختانه بدسترس سپاریده شد تا ازاین طریق ملت مسلمان افغان و جهانیان از اهداف مقدس تحریك اسلامی طالبان و از مشکلات وطن داران مظلوم ما خوب تر آگاه شوند.

در جواب سوال دیگر حقانی صاحب گفتند: ما به علاوه، فعالیتهای فوق، دستگاهای رادیوئی فراه، نیمروز که به اثر عوارض تخنیکی و عدم توجه مسؤولین وقت از فعالیت بازمانده بود ترمیم کرده که فعلاً فعال بوده و شروع بکار نموده و بنشرات خود بوجه بهتر ادامه میدهند.

وروزنامه، اتفاق اسلام و رادیوی هرات فعال بوده و تحت هدایت و رهنمائی تحریك اسلامی طالبان بکار خویش ادامه میدهند.

اوشان افزودند که: ریاست اطلاعات و کلتور ولایت غزنی در این اواخر فعال گردیده و یك دستگاه کوچك رادیو نیز در آن ولایت آغاز به فعالیت نموده نشرات میکند. و ان شاء الله عنقریب روزنامه، تاریخی سنائی هم به فعالیت خود درولایت غزنی آغاز خواهد کرد.

مولوی صاحب در جواب سؤال فرمودند: طوریکه سیستم تخنیکی و وسایل طباعتی ما خیلی قدیمی و کهنه میباشد نمیتوانیم که در کنار نشرات فعلی خود به نشر مجله ها، رساله ها و سایر نشرات و خواسته های علاقمندان و خوانندگان بپردازیم لذا تصمیم داریم که در آینده وسائل عصری (کمپیوتر) ماشین الات چاپ و... بدست بیاوریم تا از یکطرف روزنامه ها، و جراید فعلی ما بوجه احسن به فعالیت خود ادامه بدهند و از طرف دیگر زمینه برای نشرات زیادی آماده گردد.

مولوی صاحب افزودند: که در سدد میباشیم که در ولایات تحت اداره، تحریك اسلامی طالبان مجمعه های از ادیبان و نویسنده گان تأسیس نمائیم.

در پایان مصاحبه خود معاون ریاست اطلاعات و کلتور قندهار گفتند:

ما از مطبوعات و وسایل نشراتی جهان آرزو مندیم که به ارتباط تحریك مقدس اسلامی طالبان در روشني حقیقتها و واقعیتها عمل کرده از تبصره های بی مورد و میان تهی جلوگیری نمایند.

دجغتو په ولسوالی کښی وضعه د پخوا په څیر آرامه ده

د غزنی ولایت نه د شریعت اونیزی ته د مخابری تازه ربوټ دی چی د غزنی ولایت د جغتو ولسوالی کښی وضعه د پخوا په څیر آرامه او خلك د خپل عادی ژوند شبی په ځواندی بیایی.

پرون د شهادت ورځپاڼی لیکلی وو چی د جغتو ولسوالی د طالبانو له کنټرول څخه ووته چی دا خبرونه هیڅ بنیاد نه لری هسی د مسلمانانو د تشویش پیدا کولو سبب ګرځول دي.

دنیمروز په ولایت کښی یو شمیر وسلی او مهمات ونیول شول

د نیمروز له ولایت نه د (شریعت او نیزی) خبر یال راته لیکی چی د ۱۳۷٤ هـ ش کال دلیندی په وروستیو ورځو کښی د دلارام په سیمه کښی د امنیتی مسؤلینو لخوا یو شمیر وسلی او مهمات ونیول شول.

خبریال په خپل ربوټ کښی زیاته وی: څو تنو ملی غداراتو (٥١) میله کلاشینکوف (۳) قبضی راکټ لنچر (۱۰) میله درانه ماشیندار او یوه زیاته اندازه مهمات په یوه عراده موټر کښی په ډیر مهارت ځای په ځای کړی و او له هیواد څخه بهر ته ئی وړل د سیمی د مجاهدینو لخوا کشف او ونیول شول چی بیا د خوندی کیدو په خاطر د کندهار لوئی قوماندانی ته ویوړل شول.

پیام نو مینویسد:

سلاحهای ایرانی برای نیروهای نظامی درغرب کابل توزیع گردید

سلاحهای مذکو از ایران توسط طیاره به کابل انتقال داده شده و در اختیار سیدانوری قرار گرفته است. دولت ایران، بر علاوه، سلاح، مقدار زیادی پول و مواد خوراکی نیز در اختیار تشیع درباری قرار داده است پس از ملاقاتهای چندین ماه هایي که باند سیدجاوید- انوری با سفارت ایران در کابل جریان داشته است، اخرین گزارش رسیده حاکیست که سیدانوری به تعداد دو صدپنجاه میل مسلسل دو قبضه یی و راکتهای ساخت ایران را در میان نیروهای نظامی خویش توزیع نموده است طبق این گزارشها، در طول دو هفته، اخیر دولت ایران بر علاوه سلاح و مهمات مقدار زیادی پول و مواد خوراکی نیز برای حاکمیت انحصاری و مزدوران آن انتقال و در اختیار شان قرار داده است.

خبرنگار (پیام نو) ضمن ارسال این گزارشها می نویسد که تلاشهای حمایتگرانه، ایران از حاکمیت غیر قانونی کابل از زمانی افزایش بیشتر یافت که مخالفین از جهات گوناگون به پیروزی های چشمگیری نایل آمده و سقوط این حاکمیت را حتمی ساخته اند. قابل ذکر است که این چندمین بار است که کمك های نظامی و پولی ایران در اختیار تشیع درباری قرار گرفته است.

***

د طالبانو د اسلامی تحريك د حج او اوقافو د ریاست اعلامیه

ټولو هیوادوالو ته خبر ورکول کیږی چی د لمړی ځل لپاره د طالبانو د اسلامی تحریك لخوا هیواد وال ورونه حج ته لیږل کیږی، شایقین حضرات کولای شی چی د (۱۳۰۰) پوزودری سوه ډالر و په ورکړه خپل (۱٥) پنځلس عکسونه او تذکره د روژی د میاشتی تر لومړی نیټی پوری قندهار ته راورسوی او ډالر به د ۱۹۹۰م کال او راوروسته ماډل وی.

د یادولو وړ دی چی له تحویل شویو ډالرو نه (۳۰۰) ډالر بیرته ورکول کیږی.

بهترین چیز ها

احمدشاه وحدت

- بهترین کلامها، کلام خداوند(ج) است.
- بهترین عبادت تبلیغ اسلام است.
- بهترین کتابها، کتاب خداوند(ج) قران کریم است.
- بهترین خانه ها خانهء کعبه است.
- بهترین جاها جنت است.
- بهترین راه ها، راه خداوند(ج) است.
- بهترین صداها، صدای اذان و تلاوت قرآن پاك است.
- بهترین مالها، مال حلال است.
- بهترین مرگ ها، شهادت است.
- بهترین لباسها، لباس تقوی است.
- بهترین لسانها، لسان عربی است.
- بهترین نعمتها تندرستی و امنیت است.
- بهترین خصلت شرم و حیاء است.

توجه

هفته نامه، شریعت از همرطنان عزیز و مسلمان خویش احترامانه آرزو دارد که به مواد آتي جواب ارائه نمایند:

۱- خود را به خوانندگان هفته نامه، شریعت معرفی نمایند.

۲- نظر تان را در مورد قیام و چگونگی (تحریك اسلامی طالبان)ابراز نمائید.

۳- آیا طالبان و مجاهدین مناطق مربوط شما در (تحریك اسلامی طالبان) اشتراك دارند؟

٤- شما اگر در مناطق تحت اثر (تحریك اسلامی طالبان) سفر و سیر داشتید چشم دید و خاطرات خود را به خوانندگان ما بیان دارید.

٥- در صفوف و مناطق تحت اثر (تحریك اسلامی طالبان) کدام خارجی را به خصوص ملیشه، پاکستانی را مشاهده کردید و یا خیر؟

٦- چه پیام به ملت مسلمان افغان و تحریك طالبان دارید؟

یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه در نکړی چی دا ورل سپیڅلی پاڼی په ناوړه ځایونو کښی وغورځوی. (اداره)

د بی درکی اعلان

جلال الدین دمولوی کمال الدین زوی په عمر ۱۳ کلن، مورنی ژبه یی پښتو ده، یوه میاشت وشوه چی ورك دی که چاته معلوم وی نو دجلوزو کمپ دهجرت کلی په کمپ استقبال کی دی له مولوی شهاب الدین دلاور سره رابطه ونیسی.

دجرګو، مرکو او ننواتی لړی

د ربانی او دهغه د ملګرو اداری لاله پیل نه دنن یو حیثیت نه دی موندلی چی؛ هغه دافغانستان د رنځپدلی، مسلمان او باتور ملت د رنځونو درمل شی.

په تیره بیا د خلکو کرکه او نفرت هغه وخت لاورپسي ډیر شو چی ددوی د بی وسی او نه کفایت له امله نه په کوم ښارکی امن راغلی، نه په کوڅه او بازارکی، نه په کور او نه په لارکی، نه په سمه، نه په غره کی هر چیری وژل، لوټول، وهل، سپکول، لوړه، تیښتی او خواری زورشوه، نه به وایی چی دنړی ټولی فتنی او مصیبتونه په افغانستان کی راغونډ شوی دی؛ په تیره تیره خوبی دکابل، مظلومو خلکوته دومره شومیت او بدمرغی ورووسیدله چی خوارکیان یی ژوندی په اور وسوځول.

دنړۍ د نرم زړه خاوندانو او د افغانستان او اسلامی امت له مخلصو مسلمانانو سره د دغو مصیبتونو احساس ډیر په لوړه پیمانه موجود ؤ نو ځکه به په ولو ولو سره دکابل اداری ته ورتلل او د عذر او احتیاج په آواز به یی ورته ویل چی: «واك یویل چاته وسپاری چی هغه مجاهدینو او ټول ملت ته دمنلو وړ وی تر څو د ټول افغانستان بیا په تیره دکابل د مسلمانانو له سره اور مړ شی او په ارامی سره ساوکاری! هسی هم دکمونستانو په دوره کی په اور پاخه شوی دی! نو تاسی چی ځانونه مسلمانان بولی نو بیا ولی په مسلمانانو زړه سوی نه کوی؟؟!»

دوی به په داسی مهارت، چل او فریب سره په یوه بهانه، بله بهانه له ځانه تیرکړل چی څینو به ګومان کاوه چی دوی شه وایی... رښتیا وایی...!

خو، ټول خلك پوهیږی او باورکوی چی دروغ وایی، فریب کوی او غواړی چی نړی وغولوی. له کله نه یی چی د مکر او چل پرده څیری شوه او دخلکو کرکه او نفرت ورڅخه لا پسی زیات شو بیا هیڅوك نه ورغلل او نه چا د مصالحت د کردار نوم واخست نو ځکه یی پخپله په جرګو، مرکو، پیل وکړ.

څومره ښونه او توغندی چی په کابل اوریدلی دی یا اوریږی هغه ټول ددوی له پلوه کیږی تر څو یی پره او ملامته په بل چاورواچوی او ځانونه سپین چرګان کړی! او که دبل چاله لوری نه اوریدلی هم دی یا واوریږی هغه هم ددوی له مصیبت نه دخلکو د خلاصون لپاره شوی دی او کیږی.

له هغه وخت نه چی د طالبانو د اسلامی تحریك سپیڅلو مجاهدینو ددوی په اورمیږ (چهار آسیاب) کی د دوم ځل لپاره پښه کیښوده او دپایتخت (پلازمینی) څندی یی ورونسکهلی، دسلطنت (!) دائره یی دومره تنګه شوه چی نه په ملاسته پکښی ځایږی او نه یی په ناسته.

ترخته او ګناره پکښی کیږی او هم د مصلحتو وفدونو په کرکه او نفرت سره پښه ورته ونیوله هله یی خپل ځان په آینه کی ولید او دجرګو، مرکو، او ننواتی لړیه یی پیل کړه: کله یی سړی دروس په دروازه کی د لنین دراغورزولی او شرمول شوی مجسمی ترڅنګ، کله بیا دهندانو دلوی درمسال په څوا کی، او کله هم دتهران دلویی تکیه خانی شاته ولاړوی او یو څه غواړی، دا څو په بهرنی نړیه کی.

دننه په افغانستان کی د همآهنګی شوری په هر غړی پسی یی سړی ځان ځانته ګرزی عذرونه او زاری او دپخلاتوب خبری ورته کوی!

د مولوی صاحب خالص په کورپی هره ورځ د ننواتی جرګه پنډه وی او د «انتقال قدرت(!)» تاوده او تازه تازه پیغامونه ورته راوړی.

په شمشاد کی هم له مولوی محمد نبی صاحب سره او کله له سیداحمد گیلانی صاحب سره د «انتقال قدرت» ګپ شپ وی او دچا خبره: «د قصاب تر چاری لاندی ساکول» غواړی.

ځوك چی په خپل مجاهد مسلمان او باتور ولس باندی زړه سوانده وی نو نه یی بیا په اورونو سیځی، نه یی په لوږه، تنده وژنی، نه یی وینی توپوی، نه یی مال په غلو او لاری وهونکو چوروی نه یی ناموس په خپلو بدماشانو بی پته کوی.

له دی ټولونه لوی او تاریخی جرم لا داچی: د دین وتی او نهالان (علماء او طالبان) چی د افغانستان د دینداره ملت تر او ښځی، کم او لوی په خپل زړه کی ځای ورکوی او دخولی مړی ورځخه نه سپموی په خپل ټول قوت ورسره جنګیږی او شهیدان کوی یی اوچی اسیریی کړی نوله ډیرو وهلو او زیات سپکاوی نه سربیره یی لمانځه ته هم نه پریږدی.

دا ټول د پیغور، شرم او ګناه کارونه ددغه تش په نوم او مړژواندی، دنیوی او فانی قدرت لپاره چی سبا یابل سبایی ساخیږی او د ابد لپاره به دنا امیدی په قبرکی ښخ کړای شی.

له داسی کړو وړو څخه د دنیا له شرمندګی او په آخرت کی دالله تعالیٰ له لوی عذاب نه پرته نور هیڅ په لاس نه ورځی.

متل دی چی وایی: «له سلومرکونه یو برمته ښه ده» ډیره بهتره ورته داده چی: دسلو جرګو او مرکو په ځای، د سلو حیلو او بهانو په ځای دی یو د اخلاص ګام واخلی او په نیك نیتی سره اقتدار د طالبانو اسلامی تحریك ته وسپاری؛ ځکه چی نن سباله بل هر میکانیزم نه دطالبانو اسلامی تحریك ته قدرت لیږدول ترجیح لری هغه له دی امله چی هغوی په اکثر افغانستان کی نیوالوته وښودله چی: امنیت څرنګه راوستل کیږی! د هیوادوالو دسوکالی لپاره څرنګه کار کیږی! اداره څرنګه ده؟ او اسلامی نظام څرنګه په پښو درول کیږی!...؟

دغو ټولو پوښتنو ته یی په پټه خوله داسی ځواب ورکړی دی چی هر څوك یی تعبیر کولای شی.

په یکتیکاکی ...

ترسرپرستی لاندی د (۲٥) تنه عالمانو شوری جوړه شوه تر څو د خلکو مشکلات دشوری دګټورو مشورو له لاری هوار کړای شي.

شریعت

دامتیازخاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریك

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

دخپریدو ځای: د افغانستان جنوبی حوزه

د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی

تیلفون : ٤٢٦٤٥

آدرس :په پیښورکښی دطالبانوداسلامی تحریك نمایندګی

دیوګڼی بیه په هیواد کښی (۳۰۰) افغانی

په پاکستان کښی (۲) کلداری